# له فقر څخه د يوې خالي نړۍ ايجادول: ټولنيز کاروبار او د سرمايه داری نظام راتلونکۍ

*GLOBAL URBAN DEVELOPMENT Volume 4 Issue 2 November 2008*

*نړیوال ښاری انکشاف، څلورم ټوک، دریمه ګڼه، نومبر، ۲۰۰۸*

ډاکتر محمد یونس

2008 م

ترجمه: داکتر امير محمد منصوری

کابل، ثور، ۱۴۰۱ هش،

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له فقر څخه د یوې خالي نړۍ ایجادول: ټولنیز کاروبار او د سرمایه داری نظام راتلونکی

ډاکټر محمد یونس

## مقدمه

دغه لیکنه د ډاکټر محمد یونس د *«له فقر څخه د یوې خالي نړۍ ایجادول: ټولنیز کاروبار او د سرمایه داری نظام راتلونکی* (۲۰۰۸ م) Creating a World Without Poverty: Social Business and the Future of Capitalism (2008) د مقالې مستقیمه ژباړه ده. د ډاکټر یونس دغه لیکنه لومړی ځل په ۲۰۰۸ م کال د *نړیوال ښاری انکشاف (علمی مجله)، څلورم ټوک، دریمه ګڼه، نومبر،* ۲۰۰۸ م *GLOBAL URBAN DEVELOPMENT Volume 4 Issue 2 November 2008* کې نشر شوي وه چې وروسته بیا د هغه په همدغه عنوان د کتاب په لومړي فصل کې هم راوړل شوه.

دغه موجوده مقاله په واقعیت کې د ډاکټر یونس د «ټولنیز کاروبار» د تصور فلسفي او نظري مبادي توضیح کوي، نو ځکه مې ښه و بلله چې د کتاب دغه فصل وژباړل شي. پدې ترتیب سره هیله کیږي چې دغه لیکنه له یوې خوا دفقر اړوند د بشری ستونځو هغه عوامل او ریښې چې د سرمایه داری نظام په ماهیت کې تر سترګو کیږي ، یو څه توضیح کړي، او له بلې خوا به د ډاکټر یونس د «ټولنیز کاروبار» د تصور نظري مبادي او ماهیت د سرمایه داري نظام سره د مقارینې له لارې بیان شي.

د ډاکټر یونس له نظره سرمایه داري نظام په ماهیت کې د «اعظمې ګټې» په ترلاسه کولو بنا شوی وي، او پدې ترتیب سره د بشري ستونځو د حل په ځای د ډیرو نورو بشري ناورینونو سبب ګرځیدلای شي. له بلې خوا، البته د ډاکټر یونس له نظره، د «ټولنیز کاروبار» تصور د سرمایه داری نظام یو بدیل کیدای شي چې د بشري ستونځو د حل لپاره په مؤثر ډول کار وکړي. ټولنیز کاروبار هم د آزاد بازار د معمول شکل په شان د عرضې او تقاضا د اصل له مخې تنظیمیږي، خو ګټه یې بیا د پانګه وال نه بلکې د وړو متصدیانو وي- پانګه اچوونکي هم پخپله د ټولنې غریب قشر وي، خو د ګرامین بانک په شان نهاد یا افراد د کاروبار لپاره لازمې پانګه د قرضې په توګه ورکوي.

د ډاکټر یونس له نظره په کاروبارونو کې د ټولنیز مسؤلیت د زیاتوالی او ټولنیزو ښیګڼو ته د توجه کولو له لارې به د سرمایه داري نظام منفی جانبی عوارض، چې تر ډیره د «اعظمی ګټې) د تر لاسه کولو له تصور څخه سرچینه اخلی، را کمه شی. د ټولنیز کاروبار له تصور سره سم، به هر انسان، که غریب هم وي، د کاروبار وړتیا لري، خو د کاوربار د پیلولو او پر مخ بیولو لپاره هغه لازم عناصر (سرمایه او واک) نلري، چې دا بیا د ټولنیر کاروبار د تصور له لارې لاسته راتلای شي.د ګرامین بانک د ایجاد اساسي هدف په بنګله دیش کې غریبانو ته بې له تضمین څخه د وړو قرضو اسانتیا برابرول او هغوی وړو کاروبارونو ته هڅول وو. پدې ترتیب سره به واړه متشبثین د کاروبار د ایجادولو وړتیا پیداکړي.

دغه مفکورې او تجربې کیدای شي زموږ په هیواد کې هم د استفادې وړ شي اوهیله ده چې ځوان متشبثین او متقي متمویل اشخاص به یو څه ځینی زده کړای شي. لیکنه د هر چا لپاره ، خو په خاصه د کاروباري لوستونکو او د پوهنتونی علومو په نهادونو کې د استفادي لپاره توصیه کیږي.

والله علی مانقول و کیل

منصوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د داکتر محمد یونس لنډه پېژندنه

محمد یونس په بنګله دیش کې د ګرامین بانک ( د کلیو بانک) موسس دی . دغه بانک په ۲۰۰٦ م کالی کې ۴،۷ میلیونه وږو قرضه اخیستونکو ته ٦،۳۸ میلیارد ډالر قرضه ورکړې وه. دقرضو د بیرته تر لاسه کولو لپاره، ګرامین بانک د (د پیوستون ګروپونه) له سیستم څخه کار اخیست. دغه غیر رسمی کوچني ګروپونه له یو بل سره په ګډه له بانک څخه د قرض اخیستو درخواست کوي او د پیوستون د ګروپ هر غړی د ګروپ د نورو غړو د ضامین په توګه عمل کوي. پدې ترتیب سره له فقر څخه د نجات او اقتصادي پرمختګ لپاره دوی د یو بل د هڅو ملاتړ کوي.

داکتر محمد یونس یو بنګله دیشئ د ټولنیز کار ایجادونکئ، بانکدار، اقتصاددان او مدنی فعال وو. داکتر محمد یونس ته د ګرامین بانک ( د کلیو بانک) د تاسیس او کوچنیو پانګه اچونو او د قرضو اخیستنو په اړه د نوښتګرو کارونو له امله په ۲۰۰٦ م کال د نوبل جایزه ورکړل شوی وه. د ګرامین بانک د قرضه اخیستو د نوښتونو له برکته د بانکونو له خوا د قرض ورکولو دغه سیستم پخپله د ټولني په هغه غریب قشر پوری تعلق پیدا کړ چې په پخوا کې د مروجو بانکي قرضه اخیستو څخه محروم وو. داکتر یونس او ګرامین بانک ته دغه د نوبل جایزه د « د کوچنیو قرضو د اعتبار له برکته د ټو لني د غریب قشر د ټولنیزو او اقتصادي پراختیاوو او پرمختګ په لاره کې د ددوی د هڅو» له امله ورکړل شوی وه.

محمد یونس او ګرامین بانک ته د سولی د نوبل د جایزی په مراسمو کې د ناروی هیواد د نوبل کمیټې ډاګیزه کړه چې « پایدار سوله تر هغو نشي تر لاسه کیدای تر څو چې د ټولني ټول وګړي له فقر څخه د خلاصون یوه لاره و نه مومي».

کمیټي زیاته کړه چې « یونس او ګرامین بانک دا وښوده چې حتی د غریبانو هغه ډېر غریبان یې هم کولای شي د خپل پرمختګ لپاره هڅې وکړي». محمد یونس ته د نوبل د سولی په جایزې برسیره نوري متعددې جایزې هم ورکړل شوي دي؛ مثلا: په ۲۰۱۰ م کال کې د پنوسلوانیا د پوهنتون لخوا محمد یونس په تیرو ۲۵ کلونو کې د نړی د ۲۵ ډېر اغیزمنو افرادو له جملي څخه بلل شوی وو.

ډاکتر یونس د یوه بل ډېر لوستل شوي مشهور کتاب مؤلف هم ده: د غریبانو بانک: «واړه قرضونه او د نړیوال فقر په ضد مجادله Banker of the Poor: Micro- Lending and the Battle Against World Poverty

د ۲۰۱۱ م کال د فبروري په میاشت کې محمد یونس له څو نورو سره په ګډه د « ټولنیز کسب اوکار- د یونس نړیوال نوښتګر عمل » بنیاد کیښوود. د ډاکتر یونس دغه بنیاد په ټوله نړی کې د ټولنیزو معضلو د حل لپاره ټولنیز کسب او کار ایجاد او هغه ته یې توسعه ورکوله. سربیره پردې دغه بنیاد «د بشری نوي پانګې په اړه د یونس د لید لوری د تحقق او کاروني» نړیوالی اداري اجرائیه غړی په توګه د ودې په حال کې هیوادونو کې د ټولنیزو کاروبارونو د توسعې لپاره هم آسنتیاوې برابروي او د ودې په حال کې هیوادونو کې دولتونو، شرکتونو، نهادونو او غیر دولتي سازمانونو ته مشاورتی خدمتونه تهیه او وړاندي کوي.

ډاکتر یونس د چیټاګنګ په پوهنتون کې د اقتصاد استاد هم وو خو په ۲۰۱۲ م کال د ګلاسکو د پوهنتون ریس وګمارل شو چې تر ۲۰۱۸ م کار پوري یې هغهدنده تر سره کوله. محمد یونس د ګرامین بانک موسس او مدیره هیئت غړی وو خو د ۲۰۱۱ م کال د مارچ په میاشت کی د بنګله دیش حکومت نوموړی د تخلفاتو او د عمر د زیاتوالي په وجه له دغو وظایفو څخه برطرف کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱. یو نوی ډول کاروبار

په ۱۹۹۱ م کال کې د شوروی اتحاد تر پاشل کیدو وروسته د آزاد بازار[1] تصور د نړۍ په مخ خپور شو. د آزاد بازار اقتصاد په چین، جنوبی اسیا، د جنوبی امریکا په ډیره برخه، غربی اروپا او حتی په پخواني شوروي اتحاد کې خپلې ريښې وغځولې. ډیر داسې شیان شته چې آزاد بازار يې په ډیره عالي توګه تر سره کوي. که هغو ملتونو ته چې د سرمایه داري نظام اوږده مخینه لري، لکه غربی اروپا او شمالي امریکا، وکتل شي، نو د آبادی ډيرشواهد پکې ليدل کيږي. همداراز هلته موږ د تکنالوژيکي نوښتونو، ساینسی اکتشافاتو، او په تعلیمی او ټولنیزو برخوکې زیات پرمختګونه وینو. درې سوه کاله پخوا د معاصر سرمایه داري نظام رامنځته کیدو دا ممکنه کړه چې نړۍ پدې موده کې داسی پرمختګ تجربه کړی، چې هیڅکله يې پخوا نه و لیدلی. خو له دغو بریالیتوبونو سره سره، د شوروی اتحاد تر پاشل کیدو را هیسې، چې یو نسل تیرشوی، د ناامیدي یو احساس را منځته کیدونکی ده ( په سرمایه داری نظام د بې باوري احساس راټوکیدونکۍ ده).

دا باور موجود ده چې سرمایه داري نظام بریالی دی. دکاروبار وده جریان لري، نړیوال تجارت په تیزۍ سره پراخیږي، کثیرالملیتی تصدي ګانې د پرمختلونکو ملتونو او په پخواني شوروي اتحاد پورې تړليو هیوادونو په بازارونو کې خپريږی او تکنالوژیکی پرمختګ په مضاعف ډول خپلې ودې ته دوام ورکوي. خو هر څوک لدې سوکالۍ څخه برخمن ندي چې د نړیوالي آبادۍ ویش يې داسی توضیح کوي: د نړۍد عایداتو (درآمد) ۹۴ فیصده د نړۍ د نفوس ۴۰ فیصده افرادو ته ورځي، او د نړۍ پاته ٦۰ فیصده نفوس د نړۍ د عایداتو یوازي ٦ فیصده تر لاسه کوي. د نړۍ نیمايي نفوس د ورځې په له دوو کمو ډالرو ګذاره کوي او تر یو بیلیون پورې انسانان بیا تر یوه ډالر هم کم عاید لري.

د نړۍ پر مخ غربت او فقر په مساوي توګه ندی تقسیم شوی: د مځکې پر مخ ځیني خاصې سیمې بیا د دغو پرمختګونو تر ټولو بدې اغیزې ګالي. د افریقا نیمه صحرایي سیمې، جنوبي اسیا او د لاتین امریکا سلګونه میلیونه غریب وګړي له لوږې سره لاس او ګریوان دي. داسی دوراني آفتونه، لکه د ۲۰۰۴ کال څونامي چی د هند د بحر ځينې سیمې يې په کنډوالو بدلې کړي، په دوامداره توګه سلګونه میلیونه غریب خلک وژني. د نړۍ د شمال او جنوب یعنی د نړۍ د آبادو او متباقي وګړو تر منځ فاصله نوره هم زیاته شوې ده.

یو شمیر هیوادونو چې پدې اخرو دریو لسیزو کې يې له اقتصادي پرمختګ څخه خوند اخیستی بیا د دې پرمختګ لوړ قیمت هم پری کړی دی . چین چې په ۱۹۷۰ ومو لسيزو کې يې اقتصادي اصلاحات په هیواد کې معرفي کړل یوه سریع اقتصادي وده تجربه کړه چې د نړیوال بانک د معلوماتو په بنیاد ۴۰۰ میلونه چینایی وګړي له غربت څخه وژغورل شول. ( د دې په نتیجه کی اوس د نړی د فقیر نفوس تر ټولو لوی شمیر په هند کې دي ، سره لدې چې د چین نفوس وربانده زیات دی).

---

[1]. آزاد بازار (Free market) د «عرضې او تقاضا» په تصور بنا یو اقتصادي نظام ده چې د دولت کنترول پکې ډیر کم او یا هیڅ وي. برعکس یې کنترول شوی یا پلان شوی اقتصاد (Planned or controlled economy) یا اقتصادي نظام ده چیري چې دولت د تولید منابع په اختیار کې لری او د آبادۍ د ویش او د اجناسو او خدماتو قیم او د مزدورانو مزد تعینوي. د آزاد بازار او سرمایه داري نظام (Capitalism) اصطلاحات معمولا د یو او بل په مفهوم استعمالیږي خو یو څه تفاوت سره لري. که څه هم په آزاد بازار او سرمایه داري نظامونو کې عرضه او تقاضا اصل دی، چې د اجناسو د تولید او خدماتو د قیمتونو د تعیین لپاره اساس وي. سرمایه داري اقتصادي نظام د سرمایي د ایجاد او د تولیدي عواملو او د هغوی د ملکیت په مسئله باندې تمرکز لري، خو د آزاد بازار اقتصاد بیا د آبادی یا داجناسو او خدماتو په تبادله باندي تمرکز لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دغو ټولو پرمختګونو بیا یو شمیر بدې ټولنیزې ستونځې را منځته کړي دي. د اقتصادي ودې په لور په بیړه کې چینایی حاکمانو دې ته وکتل چې کمپنیو یې د سیمې اوبه او هوا ککړه کړه. برسیره پر دې د پرمختګ سره سره بیا هم د مالدار او غیر مالدار (آباد او غریب) تر منځ ویښ او فاصله زیاتیږي. د تخنیکی شاخیصونو ، مثلا د جینی ضریب[2] Gini Coefficient د محاسبو پر اساس د عایداتو (درآمد) تفاوت په چین کې د هند په نسبت په خراب حالت کې ده.

حتی د امریکا په متحده آیالاتو کې، چې د نړۍ د ډیر آباد هیواد په توګه شهرت لري، هم ټولنیز پرمختګ مایوسونکی دی. له دولسیزو ورو پرمختګ وروسته په اخرو کلونو کې د هغو کسانو شمیر چې په غربت کې ژوند تیروي زیات شو. تقریبا ۴۷ میلیونه خلک ( چې د امریکا د نفوس تقریبا شپږمه برخه جوړوي) روغتیایی بیمې نلري او اولیه روغتیایي خدماتو ته د لاسرسي په اړه له ستونځو سره مخ دي. د ساړه جنګ[3] ترختمیدو وروسته ډیرو فکر کاوو چې دفاعي مصارف به کم او روغتیایي او تعلیمی ټولنیز پروګرامونه به زیات شي. خو د ۲۰۰۱ کال دسپتمبر تر پیښې وروسته د امریکا متحده آیالاتو حکومت په نظامي او آمینیتي فعالیتونو تمرکز زیات کړ او غریب وګړي یې له نظره وغورزول.

دغه نړیوال مسایل بې توجه هم پاته نشول.د نوي زریزې په پیلیدو سره ټوله نړۍ منسجمه شوه تر څو دغه مسایل په نظر کې ونیول شي. په ۲۰۰۰ م کال د نړۍ مشران په ملګروملتونو کې سره راټول شول او د نورو اهدافو تر څنګ یې دا وپتیله چې تر ۲۰۱۵ کابل پوري به د نړۍ د فقر کچه نیمایي ته را کښته کړي ( د ۲۰۰۰ وم کال په نسبت). خو د نیمایی وخت په تیریدو سره (په ۲۰۰۸ کال) کې د دغه هدف نتایج مایوسونکې دي او اکثر ناظرین باورمند دي چې د زریزی دغه هدف به پوره نشي. ( د داکتر محمد یونس – د مقالی لیکوال - په باور: بنګله دیش تر یوه حده دغه هدف ته نژدی کیدونکی دی – هیله ده چې په بنګله دیش کې به د فقر کچه په ۲۰۱۵ کال کې نیمایی ته را کښته شوي وي).

څه شی غلط دي؟ پداسی نړۍ کې چې د آزادې تصدۍ ایدیالوژی یو ریښتنی سیال نلري، نو د ډیرو خلکو لپاره آزاد بازار ولې ناکام شو؟ پداسې حال کې چې یو شمیر ملتونه د ډیرې سوکالۍ او آبادۍ په لور روان دي، ولې ډیر نور بیا شاته پاته شول؟

دلیل یې ساده ده: نا فلتر شوي بازارونه د دوی په موجوده شکل سره د دې لپاره ندي چې ټولنیزې ستونځې را کمې کړی، بلکې غالبا به فقر ، مرضونه، ککړتیا، فساد، جرمونه او د مساوات نشتوالی (تفاوتونه) لانور هم ورسره ډیرشي.

---

[2] د جینی ضریب یا د جینی ممیز د و لسونو په سطحه د درآمد (عایداتو) ویش بیانوي. دغه تصور په ۱۹۱۲ م کال د ایتالیایی احصائیه پوه Corrado Gini له خوا را منځته شو چې معمولا د اقتصادي غیرمساوات یو مقیاس بلل کیږي. دغه ضریب د درآمد (عاید) یا په بل عبارت د نفوس پر سر د آبادي ویش اندازه کوي او د (صفر) او (یوه) تر منځ قیمت اخلي.د دغه ضریب صفر قیمت د نفوسو تر منځ د عایداتو بشپړ مساوي او یو د هغو بشپړ غیر مساوی حالت بیانوي. د دغه ضریب د (یو) قیمت ( د عاید بشپړ غیر مساوت) دا معنی لری چې په یوه ټولنه کې یوازې یو کس ټول عاید ترلاسه کوي او نور ټول بیا صفر عاید لري.

[3] سوړ جنګ (Cold war) د امریکا او شوروی اتحاد او د دوی د متحدانو تر منځ یو دوامداره کشکمش او تقابل وو. دغه نوم لومړي ځل تر دوهم نړیوال جنګ وروسته په ۱۹۴۵ م کال کې د Georg Ovel په یوه لیکلي مقاله کې ذکر شوی وو. سوړ جنګ د دغو دوو قطبونو تر منځ په سیاسي، اقتصادي او تبلیغاتی او تر یوه محدوده حده په تسلیحاتي جبهو کې یو ډول سیالي او تقابل وو. د شوروي تر ړنګیدا وروسته د ساړه جنګ تصور هم هیر شو او یو قطبي نړۍ را منځته شوه چې امریکا پکې یکه تازه ښکاریده. داسي ښکاري چې پدي اخرو کې د ناتو د دوامداره پراختیا او د روسیی انزوا او دوامداره تحقیر د یو ډول نوي ساړه جنګ بڼه را منځته کوي. په سوریه او تر یوه حده په لیبیا کی د امریکا او متحدانو (ناتو) او اوسنی روسیي مخامخ کیدل او په اوکرایین کې روانه جګړه د یو بل ډول ساړه یا «نیمه تاوده»؛ جنګ نښې بیانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ( د مقالی لیکوال) د نړیوالی[4] نظریه تایدوم – آزاد بازار باید د هیوادونو له حدودو څخه د باندی توسعه پیداکړي، د ملتونو تر منځ تجارت اجازه ولري، او د سرمایو جریان (انتقال) او دولتونه باید بین المللی کمپنیو ته د تجارت او کاروبار اسانتیاوو چمتو کولو ته علاقمند وي، او د مالیی مناسب قوانین او اسانتیاوی ورکړي. نړیوالی (نړیوالتوب) د کاروبار د یوه عمومی اصل په حیث غریبو خلکو ته د نورو بدیلونو په نسبت ډیره ګټه رسولای شي. خو د یوه صحیح نظارت او لارښود د نه موجودیت په صورت کې نړیوالي یو لوی باالقوه ضرر هم کیدای شي.

نړیوال تجارت د یوه سل لینه لوی جرنیلی سړک په شان ده چې پر مځکه باندې ډیرې ترافیکی څلور لارې او یو پربل باندی د تیریدو مواقع لري. که په دغسي یوه لوی سړک ترافیکی اشارې، د سرعتونو د کنترول نښې، د وزن او جګوالي محدودیتونه او یا د سړکونو نښې نه وي، نو د مځکې مخ به د لویو قدرتمندو اقتصادونو لوی ټرکونه ونیسي. واړه موټرونه – د یوه بزګر داکسن موټر، یا د بنګله دیش د غوایانو ګاډی او یا بایسکلي کراچی به له دغسې لوی سرک څخه ایستل کیږی.

د دې لپاره چې د «دوه طرفه ګټلو – دوه طرفه برد» نړیوالتوب ولرو، موږ باید عادلانه ترافیکي قوانین، ترافیکي اشارې او ترافیکي پولیس ولرو. دا اصل چې « هر څه د پیاوړي دي» بیا باید په داسی اصل تعویض شي چې دا تضمین کړي چې غریب ترین هم پدې جرنیلي سرک باندی لار لري. که داسي نه وي، نو بیا به نړیوال آزاد بازار د اقتصادې امپریالیزم په کنترول کې راځي.

په عین حال کې محلي، ساحوي او ملي بازارونه هم مناسبو مقررو او کنترول ته اړتیا لري تر څو د غریبو خلکو ګټې خوندي کړي. د د غسی کنترول د نه موجودیت په صورت کې به مستعد (آباد خلک) په آسانی سره حالات د خپلې ګټې په خوا ورکاږه کړي.

په ورځني ژوند کې د نامحدوده یو لینه سرمایه داری منفی اغیزې هرچیري لیدل کیږي- مثلا هغه نړیوالې تصدی چې فابریکي د نړی په غریبو هیوادونو کې تاسیسوی، چیری چې ارزانبیه مزدوران ( د ماشومانو په شمول) په اسانی استثمار کیدای شی، تر څو د دوی ګټه زیاته شي؛ هغه کمپنی چې د خپلو پیسو د سپما لپاره د هوا، خاورې او اوبو د ککړتیا عامل ګرزي؛ یا هم د اعلاناتو کمپنی ګانی چې د مضرو یا غیر ضروري محصولاتو د پلورلو لپاره د بازار موندنې غولونکونکي نشرات کوي.

په نورو برسیره،موږ وینو چې د اقتصاد ټول سکتور د بشر غریب قشر،چې د نړی نیمایی نفوس جوړوي، له پامه غورزولې دي. په اقتصادي سکتور کې د نړیوال تجارت تمرکز په خلکو باندی د داسي لوکسو موادو خرڅلاو وي چې د دوی په کار نه وي، خو د کمپنیو ګټه پکې ډیره وي.

زه په آزاد بازار باندې د ټولو لپاره د آزادي د یوه الهام اخیستونکي منبع به حیث باور لرم ، نه د یوه وړوکي ممتاز قشر د انحطاط د مهندسی د وسیلې په حیث. د نړی آبادو هیوادونو په شمالي امریکا، اروپا او د اسیا په یوه برخه کې د نوښتګرو انرژیو، موثریت او د تحرک له قدرت څخه، چې د آزاد بازار تولید او محصول دي ، ډیره زیاته ګټه ترلاسه کړه. ما خپل ژوند دې ته وقف کړ چې د آزاد بازار عین دغه ډول ګټې د نړی ډیرو هیرو شویو پرګنو ته راوړم – یعنی هغو ډیرو غریبو بشري کتلو ته کوم چې د بازار په اړه د اقتصاد پوهانو او کاروباریانو په خبرو کې کوم خاص عامل نه بلل کیږي.

---

[4]. نړیوالي Globalization هغه پروسه ده چې له مخي يې تجارت او کاوبارونه او نور سازمانونونه ( د تعلیمی، فرهنګي، سیاسی او بشری سازمانونو په شمول) په نړیواله سطحه اغیزو ته پراختیا ورکوي او یا په نړیواله پیمانه عمل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما تجربو دا ښوووده چې آزاد بازار لکه څنګه چې قوي اوګټور ده، کیدای شي داسي مسایلو ته لکه نړیوال فقر او د محیط تنزل (خرابوالي) ته ځواب ویونکی شي، خو هغه وخت چې یوازی او په بیرحمانه توګه د هغه د مستعدترینو (مالدارترینو) واکدارانو (سهم لرونکو) مالي اهداف/ګټې پوره کړي.

## آیا دولت یو ځواب ده؟

ډیر خلک داسې فرضوي چې آزادبازار ټولنیزې ستونځې نشي حل کولای، خو حکومتونه یې کولای شي. لکه څنګه چې شخصي سکتور د ځاني منافعو لپاره وقف شوی وي، نو داسې انګیرل کیږي چې حکومتونه به د ټولنو د ګټو نمایندګي کوي. له دغه ځایه څخه دا باور لرل منطقي ښکاري چې لوی پیمانه ټولنیز مشکلات باید د حکومت د صلاحیتونو په محوطه کې وي.

حکومت کیدای شي پدې کې مرسته وکړي چې زموږ لپاره مطلوبه یوه نړۍ، چې موږ پکې ژوند کول غواړو، جوړه کړي. یو شمیر داسې وظایف دي چې د افرادو یا خصوصي بنسټونو په لاس نشي تنظیمیدای – مثلا ملی دفاع، یو مرکزی بانک چې د اسعارو وړاندې کول او بانکي کاروبار تنظیموي، ، ملی تعلیمی نظام، ملی روغتیایي خدمات تر څو ټولو ته د روغتیایی خدماتو د رسد اطمنان حاصل شي او د عامه آفاتو اغیزې کمې کړای شي. دا هم مهمه ده چې حکومت د مقررو د وضع کولو له لارې پانګه اچونه کنترول او محدوده کړي – لکه ترافیکی قوانین.که څه هم په نړیوال اقتصاد کې د نړیوالی اړوند مقررې او قوانین لاتر اوسه هم د بحث موضوع ده او یو بین المللی اقتصادي نظم باید بشپړ را پیدا شي، اما ډیر حکومتونه په ملي او محلي سطحو د آزاد بازار ښه مراقبت کوي. دغه خبره تر ډیره په ریښتینو صنعتي هیوادونو کې ډیره رښتیا ده چیرې چې سرمایه داري نظام اوږده تاریخي مخینه لري او دموکراتیکو حکومتونو هلته په تدریجي توګه د آزاد بازار د تنظیمولو مناسب مقررات او سیستمونه پیاده کړي دي.

په دغسې مواردو کې (مالي) ترافیکي قوانین د آزاد بازار څخه د نظارت له لارې د غذا او دواګانو کاروبار تنظیموي او د مشتریانو د غلطولو مخنیوی کوي، مثلا د خطرناکو او مضرو محصولاتو خرڅلاو، د دروغجنو اعلاناتو خپرول، د قراردادونو څخه کوږوالی او د چاپیریال د ککړتیا پر خلاف قوانین. دغه قوانین د معلوماتو/ارقامو چوکاټ ایجاد او تنظیموی چې د هغه په حدودو کې کاروبار او کاروباری اجرات تر سره کیږي- مثلا د اسعارو د ذخایرو اجراآت، د شرکتونو د مالی چارو معلومات افشا او خپرول، او د محاسبو او کنترول معیاری کړني. دغه مقررې او قوانین دا تضمینوي چې کاروبارونه په مناسبه سطحه پرمخ بیول کیږي.

د کاروبارونو لپاه ترافیکی قوانین بی عیبه او کامل هم نه وي او همیشه په ښه توګه نه اعمالیږي او پدې توګه د قوانینو له موجودیت سره سره ځینې شرکتونه بیا هم مشتریان غولوي، چاپیریال ککړوي او پانګه اچوونکي هم غولوي. دغه ډول ستونځې په خاصه توګه په پرمختلونکو هیوادونو کې ډیرې درنې او جدي وي، چیرې چې حکومتونه یې ضعیف او اداري یې فاسدې وي. په پرمختللیو هیوادونو کې حکومتونه معمولا د چارو د تنظیم وظایف په ښه توګه تر سره کوي، که څه هم د۱۹۸۰ یمی لسیزی را پدیخوا محافظه کار سیاستمداران[5] هڅې کوي او له هر ممکن فرصت

---

[5].په غربي سیاسی قاموس کې د محافظه کار او دموکرات دوه اصطلاح ګاني دي. د محافظه کار اصطلاح هغه سیاسی لید لوري ته راجع کیږی چې د پخوانی عرف (که حکومتی نظام وی یا اجتماعي ، اقتصادي یا بل څه) باندي ټينګار لري او د مودرن (عصری کیدو) سره مخالفت ښيي. په مجموع کې محافظه کاران په ټولنیزو امورو، په خاصه اقتصادي چارو کې د دولت په کم او د آزاد بازار په لوی رول باندي تاکید کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه يې ګټه اخيستی چې د حکومتونو د تنظيم امور له نظره وغورزول شي. بيا هم حتی د کاروباري امورو يو ډېر اعلی حکومتي نظارت او کنترول سيستم هم يوازی بس نه وي چې د جدي او درنو ټولنيزو مسايلو حل کول خو لا پريږده چې حتی ور سره د مقابلې کولو تضمين وکړي. د نظم او کنترول حکومتي سيستمونه د کاروبارونو په لارو چارو اغيزې لرلای شي، خو هغو ساحو ته چې کاروبارونه يې له پامه غورزوی، رسيدګی نشي کولای. تجارت او کاروبارونه د مسايلو په حلولو نشي مامور کيدای او يو ډول محرکاتو ته اړتيا لري تر څو دا کا رکول وغواړي.

کاروباری ترافيکی قوانين په نړيوالو اقتصادي لويو لارو (جرنلی سرکونو) د وړو موټرونو او لاريو او حتی ريکشاګانو لپاره هم د تګ راتګ ځای ځايګی برابرولای شي. خو د ميليونونو هغو خلکو په هکله چې حتی د عادي عراده جاتو مالکان هم نه وي، څه وشي؟ په ميليونونو هغه ښځې، او ماشومان به څه کوي ، چې د دوی بنيادي بشري اړتياوې لا هم بې ځوابه پاته دي ؟ څنګه وکولای شو چې د نړۍ نيمايي نفوس چې د ودې په ټيټه سطحه کې دي، د دې وړتيا او قابليتونه تر لاسه کړي تر څو دوی هم د نړيوال اقتصادي څرخ روان جريان ته را پورته شي او پدې ترتيب د آزاد بازار په اقتصاد کې سيالي وکړای شي؟ اقتصادي تمځايي اشارې او ترافيکي پوليس دغه کار نشي ترسره کولای.

حکومتونو د تاريخ په اوږدو کې هڅې کړي دي چې د دغه ټولنيزو مسايلو حلولو ته لاره پيداکړي. په منځنيو پيړيو[6] کې انګلستان ضعيف قوانين لرل چې نه يې شو کولای د هغو خلکو مرسته وکړي چې په بله لاره يې نشو کولای. معاصر حکومتونه داسي پروګرامونه لري چې ټولنيزو مسايلو ته رسيدګي کړای شي، مثلا حکومتونه ډاکټران، نرسان، معلمان، ساينس پوهان، ټولنيز کارکوونکي او څېړونکي استخداموي تر څو د بی وسه وګړو ملاتړ وکړي.

په ځينو هيوادونو کې حکومتي ايجنسيانې د فقر په له منځه وړلو، ناروغيو او نورو ټولنيزو مصايبو په کمولو کې تر نيمي لارې رسيدلي دي. بنګله ديش يو له دغسي هيوادونو څخه ده چې د نړۍ يو له پر نفوسه منطقو څخه شميرل کيږي چې ۱۴۵ ميليونه وګړي يې د امريکا د ويسکونسن د ايالت په برابر ساحه[7] کې اوسيږي. که په بله ژبه ووايو چې که د ټولې نړۍ نفوس د امريکا په متحده آيالاتو کې سره را ټول کړو نو د نفوسو تکاثف ميزان به يې د بنګله ديش د (هغه وخت) نفوس د تکاثف تر ميزان لږ کم وي. لدې سره سره بيا هم بنګله ديش د نفوس د فشار د کچې په را کمولو کې ښه پرمختګ کړی دی. په اخرو دريو لسيزو کې د مور په سر د اولادونو په ميزان کې د پام وړ کمی راوستل شوی او دغه تمايل لا روان دی. ( په ۱۹۷۵ م کال کی د مور په سر ٦،۳ خو په ۱۹۹۹ م کې بيا دغه ميزان ۳،۳ ته راټيټ شو). دغه جالب او د توجه وړ ښه والی تر ډېره حده د حکومت د هڅو له برکته را منځته شو چې د هيواد په سطحه د روغتيايي کلينيکونو له لارې د ولادتونو تر منخ د واټن د مراعات لپاره لازم محصولات ويشل ، معلومات خپرول او روغتيايي خدمات وړاندي کول پکې شامل وو. د فقر په پرمختګ او د فقر په تخفيف او کمښت کې غيردولتي موسساتو او همداراز د ګرامين بانک هڅو هم مهم رول ولوباوه.

حکومتونه د ټولنيزو مسايلو د حل په اړه ډېر څه کولای شي. حکومت لويه اداره وي او د دې قدرت لری چې د ټولنو هر ګوټ ته ورسيږی او د مالياتو له لارې ډېر منابع بسيج او را ټول کړي. د غربيو هيوادونو حکومتونه هم د نړيوالو مرستو له صندوق څخه اعانې او کم سوده يا بې سوده پورونه تر لاسه کولای شي. نو دا آسانه ښکاري چې ټولنيز مسايل

---

[6]. منځنی پيړۍ Middle Ages د اروپا په تاريخ کي په پنځمه ميلادې پيړۍ کې د روم د تمدن د سقوط څخه را وروسته بيا په اروپا کې د رينيسانس تر دوري پوری (تقريبا ۱۳- ۱۵ ميلادي پيړۍ پوری) تاريخی دورې ته ويل کيږي.

[7]. د بنګله ديش نفوس اوس ۱٦۳ ميليونه دی او خاوره يې تقريبا د افغانستان څلورمه برخه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره را ونغښتل او د دولت په غاړه کې ور واچول شي او ورته ووايي چې «دغه ده در وايې خله او سم يې کړه»! خو که دغه طريقه موثره واى نو  ټولنيز مسايل به لاپخوا حل شوي واى. د ټولنيزو مسايلو موجوديت د ا ثابتوي چې  حکومتونه يوازې په خپل ځان  دغو مسايلو ته ځواب ولې نشي ويلاى؟.

د دې سوال د ځواب دلايل يو څو دي.  يو دا چې حکومتونه   ممکن غير موثر وي، ورو عمل کوي، فساد ته تمايل پکې وي، بيوروکراسي پکې زياته وي او د ځان دايمی کار يې بولي.  دغه ټول بيا د حکومتونو د ګټې جانبي عوارض دي چې: د حکومت حجم لوی وي (پړسيدلي اداری جوړښتونه)، قدرت، او متمول او مالدار قشر په حتمي توګه حکومتونه غټوي او ځانته يې جذبوی تر څو يې د خپل قدرت او مال د زياتوالي لپاره وکاروي.

حکومتونه معمولا د شيانو د ايجاد لپاره ښه وی خو چې کله د هغو شيانو د وجود ضرورت رفع شي او د حکومت د اوږو  بار وګرزي، نو د هغو د بندولو لپاره بيا ښه نه وي. د ګټو ترلاسه کول – مخصوصا د وظايفو، په هره نوي اداره کې ايجاديږي. په بنګله ديش کې   هغه مامورين چې  يوازي د دې لپاره ګمارل شوي وو چې په دولتي ادارو کې ساعتونه کوک کړي (چاپی ورکړي)، سره لدې چې هغه ساعتونه په برښنايی ساعتونو تعويض شول خو دغو مامورينو تر کلونو پورې دغه بستونه ساتلی وو او تنخواوی يې اخيستې[8]. سياسيون هم  په حکومتي ادارو کې د موثريت مانع ګرزيدای شي- که څه هم (سياسيون) شايد  د شفافيت «حسابدهي» په معنی وي.

دا واقعيت چې د خلکو ګروپونه دا غواړي چې حکومت د دوی ګټې وساتي او په خپلو نمايندګانو فشار راوړي چې د دوی د ګټو حمايت وکړي، او دغه بيا د دموکراسۍ يوه اساسي ځانګړتيا ده. خو په عين حال کې دغه اړخ  بيا کله کله داسي معنی پيداکوي چې د پرګنو د منافعو په عوض د يوه يا  څو باقدرته  متنفذو ګروپونو منافع معتبرې وبللي شي. د مثال په توګه په امريکا کې د غير معقول او  غيرموثر روغتيايي اسانتياوو سيستم،  چې په لسګونو ميليونه خلک يې له روغتيايي بيمو څخه بې برخې کړي دي. د بيمو په دغه ناروا سيستم کې د اصلاحاتو راوړل ځکه نا ممکن دي چې د باقدرته بيمه اي او دواسازي کمپنيو له ګټو سره مغايرت لري.  د حکومتونو دغه ارثي کمزورتياوې دا توضيح کوي چې ولې د پخواني شوروي اتحاد دولتي کنترول شوی اقتصادي نظام  بالاخره وپاشل شو اوسقوط يې وکړ. د حکومت دغه ډول کمزروتياوې داهم توضيح کوي چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې  ولي خلک د دولت په ملکيت او پشتوانه باندي د ټولنيزو مسايلو د حل سره خوشحاله نه دي. حکومتونه بايد زموږ د بدترينو  مشکلاتو په رفع کولو کې مرسته وکړي خو حکومتونه يې يوازی په خپل سر نشی حل کولای.

---

8. زموږ د هيواد په اردو کي هم د فيل د ډاکټر قصه شته، سره لدې چي په موجوده نظامي جزوتامونو کي فيل نه وو خو د پخواني تشکيل سره د فيل ډاکټر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غیر انتفاعي (خیریه) مؤسساتو سهم

د نړۍ په سطحه له حکومت څخه ستړي شوي ډیر هغه خلک چې د ټولنیزو مسایلو په اړه فکر او اندیښنه لري،غیر انتفاعي یا غیر منفعتي موسسات (Non Profit Organizations) یې پیل کړل تر څو د ټولینزو مسایلو د حل په اړه یو څه وکړي. د غیر انتفاعي اصطلاح ډیر مختلف شکلونه لري او په مختلفو نومونو یادیږي: غیر انتفاعي مؤسسات، غیر دولتي مؤسسات ، رضاراکارانه مؤسسات، خیریه ټولنې، بشردوستانه بنسټونه، او نور.

«رضاکار» خدمت له نورو انسانانو سره د بنیادي خواخوږي په تصور او فکر کې ریښه لري. د نړۍ ټول ادیان خپلو پیروانو ته لارښوونه کوي چې له محتاجو سره مرسته وکړي. په ځانګړي ډول په اضطراری حالاتو کې غیر انتفاعي بنسټونه مرستې تر لاسه کوي چې زیانمن شوو کسانو ته یې ورسوي. مثلا یو کال په بنګله دیش کې د بحر د مد او جذر څخه د را سر شویو سیلابونو په وخت د نړۍ له مختلفو برخو څخه سخاوتمندانه مرستو په بنګله دیش کې دلسګونو زرو انسانانو ژوند وژغوره. له دغه سره سره دا ثابته شوه چې غیر انتفاعي موسسات په یوازی سر د ټولنیزو ستونځو د ځوابولو لپاره کافي نه دي. دوامداره او حتی ورځ په ورځ خرابیدونکي نړیوال فقر، سیمه ایز ټول شموله امراض ، بې کوري، لوږه، او د چاپیریال ککړتیاوې د دې ادعا لپاره کافي شواهد دي چې دا ښیي چې رضاکار فعالیتونه دغه کار نشي تر سره کولای.

رضاکاري هم په خپل ځان کې یو ډول ذاتي کمزورتیاوې لري: رضاکاري د سخي افرادو، مؤسساتو او یا هم د دولتي اجنسیو په دوامداره اعانو باندي تکیه لري. کله چې دغه اعانې ودریږی نو د رضاکارانه مؤسساتو هغه ښه کار هم دریږي. بر سیره پردې د غیر منفعتي مؤسساتو له هر ریس څخه دا خبره اوریدل کیږي چې د ټولو اړتیاوو د رفع کولو لپاره کافي پیسي ورسره نشته. حتی که (د خلکو) اقتصاد قوي هم وي او د خلکو بټوې له پیسو هم ډکې وي، بیا هم د عایداتو څخه د رضاکارانه اعانو ورکولو لپاه یو ه محدوده برخه وي. په سختو وختونو کې چې کله د اړوخلکو ضرورتونه ډیر زیات وي، نو د اعانو اندازه هم کمه وي.رضاکاري د ځاځکو د تجمع د اقتصاد یو شکل ده نو کله چې ځاځکی بند شي، نو له اړو سره مرسته هم بندیږي.

په اعانو باني اتکا کول نور مشکلات هم را پیداکوي. په داسي هیوادونو کې چې ټولنیز مسایل ډیر زیات دي، لکه بنګله دیش، د جنوبي اسیا په نورو سیمو، د لاتین امریکا په لویه برخه او نیمه صحرایی افریقایي سیمو کې د رضاکاره فعالیتونو لپاره موجود منابع معمولا ډیر لږ پیداکیږي. سربیره پردې د دغسې سیمو لپاره د لرې پرتو متمولو هیوادونو له وګړو څخه د داسې سیمو لپاره چې هغوی هیڅ نه وي لیدلي او هلته د داسې خلکو لپاره چې هغوی یې هیڅ نه پیژني، د اعانو د تر لاسه کولو دوامداره علاقه ساتل هم ستونځمن کار وي- مستمرې اعاني تر لاسه کول مشکل وي. دغه ستونځه د منلو وړ ده، خو په نتیجه کې یې د هغو هیوادونو وګړې چې جدي او حادې ټولنیزې ستونځې لري، بې توجه پاته کیږي.

دغه ستونځه د بحرانونو د وقوع پر وخت لا لوییږي، مثلا کله چې هلته طبعي آفات رامنځ ته شي، کله چې جنګونه د ولسونو د پاڅون سبب شي او بیا ورڅخه رنځیږي، کله چې وبایي ناروغیانې خپرې شي، او چیري چې یوه سیمه د چاپیریالي سقوط په وجه نوره د انسانانو د اوسیدو وړ نه وي. همداراز د رضاکاري عرضه په چابکۍ سره د تقاضا په اندازه نه وي. په اوسنیو حالاتو کې له نړۍ څخه په مکرره توګه خبرونه خپریږی چې دومره اندیښنې او د توجه وړ تقاضا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوا هیڅکله نه وه واقع شوي. له تلویزیونو څخه د ډراماتیکو او مهیجو فاجعو راپورونه د رضاکارو زمریانو د اعانو اسهام ژر جذبوي، پداسي حال کې چې نوري مهیجې فاجعي چي کمي خپرېږي[9]، بیا له پامه غورزیدلي پاته کیږي. او بالاخره اعانه ورکوونکي هم «ستړېږي او حوصلې بایلي» او بالاخره اعانه ورکوونکي هم دربږي[10].

په نتیجه کې ویلای شو چې د غیر انتفاعي مؤسساتو د موثریت لپاره یو حد او اندازه ده. په دوامداره توگه له تمویلونکو افرادو او بنسټونو څخه د اړتیا وړ اعانو راټولول د غیر انتفاعي موسساتو انرژی او وخت نیسي، پداسي حال کې چې دوی باید د خپلو پروگرامونو د ودې او توسعې پلانونه جوړ کړي وای. له دغه ځایه پدې کې شک نشته چې غیرانتفاعي موسسات د ټولنیزو ستونځو سره د مقابلې لپاره ډیر پرمختگ نشي کولای.

له هغو ټولو ښو کارونو سره سره چې غیر انتفاعي موسسات، غیر دولتي موسسات او بنسټونه یې تر سره کوي، له دوی څخه د نړۍ د ټولنیزو بدبختیو د حل توقع نشی کیدای. د دغه ډول موسساتو ماهیت ته په کتو سره په واقعیت کې داسي توقع لرل ناممکنه بریښي.

[9]. لکه چې اوکراینی مهاجرو دغه حقیقت ښه بیان کړ – د اوکریین تر جگړي مخته امریکا او اروپا د مهاجرو په مخ تقریبا دروازي تړلي وی او ښې لاسی محافظه کار سیاست مداران د مهاجرو پر خلاف علني دریدلی وو، خو د اورکراینین مهاجرو ته یي بیا لبیک وایه او په خپلو کورونو کې یې ځای ورکاوو. داسی عوامل لکه رنگ، مذهب او سیاسی ملحوظات به موثر وو، خو د اورکاینین جگړي ته د روسیی د تهاجم پر خلاف زیاتو تبلیغاتو هم خپل ځای پکې لاره.

[10]هغه متل چې وایي « مهمان یک روز، دو روز اما نه تا نوروز«!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څو جانبه نهادونه – انکشافي نَخَبه ګان

**څوجانبه نهادونه** يوبل ډول موسسات دي چې د دولتونو لخوا حمايه او تمويليږي او د ټولنيزو ستونځو د هواري لپاره پيژندل شوی رول لوبوي. د دوی ماموريت دا ده چې  په هغو هيوادونو او سيمو کې چې د شمالي نيمې کرې د مستعدو ملتونو څخه وروسته پاته دي د اقتصادي ودې د تقويې له لاري فقر او غربت له منځه يوسي. د څوجانبه نهادونو له جملې څخه  نړيوال بانک بيا د نورو په سر کې راځي. نړيوال بانک د خصوصی سکتور يوه کړکۍ لري چې **دتمويل بين المللي شرکت**[11]يې بولي. څلور نور ساحوي انکشافي  بانکونه هم دي چی د نړيوال بانک څخه پيروي کوي. له بده مرغه  چې څوجانبه نهادونو هم په عمل کې خپل مسلکي ټولنيز اهداف ندي  ترلاسه کړي. د حکومتونو په شان دوی هم بيوروکرات، محافظه کار، ورو حرکت کوونکي، او معمولا د ځان پالونکي  ګرزيدلي دي.  د غيرانتفاعي موسساتو په شان دوی هم  په مزمنه توګه له لازم بودجوي کمښت سره مخ وي، په آسانۍ تکيه نشي وربانديي کيدای  او په خپلو پاليسيو کې متناقض وي.  ددې په نتيجه کې هغه سلګونه بيليونه ډالر چې دوی پدې اخرو لسيزو کې مصرف کړل تر ډيره حده غير موثر ثابت شوي دي – په خاصه د نړيوال فقر د امحا او له منځه وړلو  په شان د اهدافو  اړوند شاخصونو له مخې.

د فقر او غربت له منځه وړل د نړيوال بانک په شان د څوجانبه نهادونو د اساسي اهدافو له جملې څخه دي، خو دوی  د دغه هدف د لاسته راوړلو لپاره په لويه پيمانه اقتصادي ودې باندي تمرکز کوي.  ددې معنی داده  کله چې په يوه هيواد يا سيمه کې د **ټول کورني توليد**[12]کچه جګه شي، نو نړيوال بانک مدعي کيږي چې دوی خپل ماموريت سرته رسولی دی.  د  ټول کورني توليد وده کيدای شي په غير معمولي ډول ورو وي؛  دغه وده کيدای شي داسي وي چې غريبو خلکو ته يې هيڅ ګټه نه وي رسيدلي؛ کيدای شي دغه وده حتی د غريبو د تاوان له برکته تر لاسه شوي وي. خو بيا هم هيڅ يو له دغو دلايلو څخه نړيوال بانک د خپلو پالسيو بدلولو ته نه ترغيبوي.

پدې کې هيڅ شک نشته چې د فقر په راټيټولو کې وده يا پرمختګ ډير مهم ده، خو  داسي انګيرل چې د فقر په کمښت کې يوازي دا مهمه ده چې وده ارتقا وکړي، پاليسي جوړونکې دې ته اړباسي چې بايد د صنعتي کيدو او ميکانيزه کيدو لپاره  زيربناوې جوړې شی[13].

د ودې او پرمختګ  هغه رويش  چې نړيوال بانک يې تقويه کوي،  مختلف ډولونه لري چې ځينی يې له انديښنو څخه خالي نه  او له مخاطرو  سره ګډ وي. يو ډول پرمختګ يا وده د «غريب نواز» او بل ډول  يې «غريب دوښمنه» پرمختګ په نوم بلل کيدای شي، چې معمولا د پاليسی د دوو ځانګړو  بديلونو په بڼه ظاهريږي. داسي انګيرل کيږي چې ولو که پاليسي سازان د «غريب نواز پرمختګ» تشخيص هم درست وکړای شي او د ترلاسه کولو لپاره يې کار هم

---

[11]International Finance Corporation (IFC)

[12]Gross Domestic Product (GDP)

[13]. د مقالې د مولف له نطره صنعتي کيدل، او ميکانيزه کيدل د غريبو په ګټه ډير نه، بلکې د سرمايه دارو په ګټه وي. د ميکانيزه کيدو په صورت د غريبو خلکو لپاره کارونه کميږي او د صنعتي کيد په صورت کې د چاپيريال ککړتيا متصوره وي، چې په مستقيم او غير مستقيم ډول دغه ډول زيربناوي بيا د ټولنو دغريب قشر لپاره تاواني بلل کيدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي، خو بيا به هم هغه حقيقي مسئله به يې ورکه کړي وي. واضح ده چې د پاليسی سازانو هدف داوي چې يو اقتصادي ځرخ ايجاد کړي تر ځو غريب خلک په هغه اقتصادي ځرخ کې ځای شي[14]. پدې ترتيب پاليسي جوړونکې د غريبو خلکو، په خاصه د ښځو او د بې بضاعته کورنيو د ماشومانو هغه عظيم او سرشاره پټ استعدادونو ته توجه نه کوي او له پامه يې غورځوي. دوی غريب قشر د يوه مستقل رول لوبوونکي (اکتور) په حيث نشي ليدلای. دوی د ټولنو او په ټولنه کې د غريبو خلکو د روغتيايي، تعليمي او د کاري چارو په اړه انديښنې لري، خو دوی دا نشي ليدلای چې غريب خلک کولای شي پخپله (پدې اړه) رول لرونکي وي[15]. پداسي حال کې چې غريب خلک هم کولای شي ځانته شغل پيداکړای شي، متشبث وي او نورو ته هم کار ايجاد کړي.

پردې سربيره، پاليسي جوړونکي د پرمختګ په خپلو هڅو کې د مخکې له مخکې تاسيس شويو نهادونو د لا تقويه کيدو پر تلاشونو تمرکز کوي.پدې هکله هيڅکله هم بحث نه کوي چې ممکن دغه موجوده نهادونه به د فقر او غربت د رامنځته کيدو او يا دهغه په دوام کې برخه ولري. هغه نهادونه او هغه پاليسی ګانې چې پخپله د فقر د ايجاد وسيله شوي وي، د هغه د له منځه وړلو اعتماد نشي ورباندې کيدای، برعکس د فقر د له منځه وړلو لپاره بايد نوي نهادونه طرحه او ايجاد شي تر څود غريبو ستونځې حل کړای شي.

نوري ستونځې د هغو چينلونو د انتخاب له ساحې را ولاړيږي چې تمويلونکي يې د پروژو د تعيين او عملي کيدو لپاره انتخابوي. بين الدولي ( د دو دولتو تر منځ) او څو جانبه ( د يوه هيواد او بين المللی نهادونو (مثلا نړيوال بانک) تر منځ) دواړه تمويلونکې تقريبا يوازی د حکومتي نظام له لاري مرستندويه کارونه ترسره کوي. د دې لپاره چې واقعي اغيزې تر لاسه شي، نو دوی بايد دې ته اجازه ورکړي چې د ټولنو له ټولو برخو سره کار وشي او بايد دې ته تيار وي چې له دولتي حلقو څخه د باندې په ټولنو کې له موجودو ابتکاري ظرفيتونو څخه ګټه واخيستله شي. زه باوري يم چې که تمويلونکي له حکومتي نظام څخه د باندې ټولنې ته ورسيږي، دوی به ډير په زړه پوري نوښتونه پيدا کړي. دوی کولای شي چې له ورو پروژو څخه پيل وکړي او که مثبت نتايج يې ترلاسه شول، نو بيا د نوره وده هم وکړي.

له کلونو راهيسي ما د نړيوال بانک او د ګرامين بانک[16]کاروباري سبک او سليقې سره مقايسه کولې. په نظري توګه موږ يو ډول کاروبار لرو چې له غريبو خلکو سره مرسته کوو تر څو له فقر څخه خلاص شي، خو هغه طريقه چې موږ ورباندې دغه هدف تعقيبوو بيا ډير فرق سره لري .

---

[14]. د ډاکټر يونس هدف شايد دا وي چې د نړيوال بانک د فقر د امحا رويشونه دا ايجابوي چې پاليسي جوړونکې داسی يو ااقتصاد وغواړي چې کارونه پيدا او پدي ترتيب غريب خلک په کارو وګمارل شي. خو د داکتر يونس په فکر د پرمختګ په دغه نظريه کې غريب خلک «شيان» ګڼل کيږي، داسي چې يو څوک يې ځای په ځای کوي اما خپل تحرک يې نه تشويقيږي.

[15]. د «مشتري کيدو ذهنيت» اصطلاح هم د « دغوښتلو يعنی راکړه = بده» معنی لري او مفهوم يې داده چې د فقر د امحا په دغو مودلونو کې د ټولنې غريب قشر او په غوټه کې غريب ملتونه له مستعدو ملتونو او سرمايه دار قشر څخه د «غوښتلو» ذهنيت پيداکوي او سرمايه داری نظام يې هم د «د اخيستونکی - ګيرنده» په حيث روزي پداسي حال کې چې هر څوک د خپلو ستونځو د هوارولو توان پخپله ښه لري خو تقويې ته اړتيا لري.

[16]. ګرامين بانک Grameen Bank چې لغوي معنی يې د «کليو بانک» ده ، په بنګله ديش کې د ډاکټر يونس د *ټولنيز کاروبار* لپاره له غريبو خلکو سره د قرضو د ورکړې لپاره تاسيس شوی بانکي سيستم دی. دغه ډول بانکي قرضې د ډاکټر يونس له نظره په واقعي توګه له اړمنو سره مرسته کوي چې خپل کاروبار پيل کړي او نورو ته هم په خپلو وړو کاروبارونو کې کارونه ايجاد کړي. ګرامين بانک تر يوې لسيزې مخکې پوري د نړيوالو تمويلوونکومنابعو لخوا د زياتي توجه وړ وو او ډيرې مرستی يې ترلاسه کړي وي. دغه ډول مرستې د ډاکټر يونس له نظره نه د سرمايه داري نظام او نه هم د بشپړ دولتی اقتصاد نمايندګی کوي. په سرمايه داری نظام کې د ګټې د اعظمي کيدو له نظريی سره سم غريب خلک سود لرونکې قرضی نشی ترلاسه کولای او په دولتی اقتصاد کې خو غريبو ته يوازی د ځاني مزدوري امکانات مهيا کيدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرامین بانک همیشه پدې عقیده وو چې که کله مقروض په مشکل کې ولویږی او ونشي کولای چې خپله قرضه تادیه کړي، نو دا زموږ مسؤلیت ده چې مرسته ورسره وکړو. که موږ له مقروض سره کومه ستونځه ولرو، نو موږ ځانته وایو چې هغه په حقه ده او موږ به حتمي په خپلو پالسیو یا د هغو په عملي کیدو کې کومه غلطي کړې وي. بیا نو موږ بیرته ځانته گورو او هغه اصلاح کوو. موږ خپل مقررات ډیر انعطاف منونکي جوړوو تر څو هغه د قرض کوونکو له ایجاباتو سره وفق ولري یا ورسره د تعدیل وړ وي.

همدا راز موږ قرضه اخیستونکي هڅوو چې پخپله تصمیم ونیسي چې اخیستل شوي قرضه په کوم شکل وکاروي. که یو قرض اخیستونکئ د گرامین بانک له مامور څخه پوښتنه وکړي چې « مهرباني به مو وي که را ته ووایي چې کوم کاروبار به ښه وي»، د بانک پرسونل داسي روزل شوي دي چې ورته وبه وایي چې«ښښنه غواړم، زه دومره هوښیار نه یم چې تاته د کوم ښه کاروبار په اړه کوم نظر درکړم. گرامین بانک ډیري پیسي لري خو د کاروبار په اړه نظر نلري، ځکه نو گرامین بانک تاسي ته مراجعه کوي. ته نظرونه لرې او موږ پیسي لرو. که گرامین بانک د کاروبار ښه افکار درلودلای، نو د دې پر ځای چې تاسي ته پیسي درکړي هغه به یې په خپله په کاروبار اچولي وای او نوري پیسي به یې گټلي وای».

موږ غواړو چې زموږ قرضه تر لاسه کوونکي خپل ځان مهم و گڼي. که کوم قرضه اخیستونکی ووایي چې دی پخپله کومه کاري تجربه نلري او له قرضي اخیستلو ډډه وکړي، نو کوشش کوو چې هغه قانع کړو چې دوی کولای شي چې دوی پخپله د کوم کاروبار په اړه فکر وکړي او له بانک سره یې شریک کړي. دا کار کیدای شي د دوی لومړنی کاري تجربه وي! موږ ورته وایو چې که داسی هم وي نو پروا نلري، یو کاروبار باید له یو ځاي څخه پیل شي- هر کار یو پیل لري!

په نړیوال بانک کې د بانک او قرض غوښتونکي تر منځ دغه معامله بیا بالکل بل ډول وي. که ته بختور وې او د بانک قرضه ترلاسه کړای شې، نو دوی پیسې درکوي، خو برسیره پردې دوی همدارانگه د کاروباري مفکورو، تخصص، تریننگ، پلانونه، اصول او مقررې هم درکوي. له تا څخه غوښتل کیږي چې ته به زیږ خطونه، شنه خطونه او سره خطونه تعقیبوې – په هر قدم کې به د دوی لارښووني په دقت لولي او مراعات کوي به یې. له دغه ډول نظارت سره سره بیا هم پروي همیشه له پلان سره سمي پر مخ نه ځي. د پروژو د ناکامي په صورت کې بیا معمولا مقروض ملامت بلل کیږي او د پروژې د ناکامی عواقب تحمل کوي.

د دغو دوو ادارو د مشوقاتو د سیستمونو تر منځ هم ډیر فرقونه شته. گرامین بانک د خپل پرسونل او د بانک د شعباتو د ارزونو او مشوقاتو یو پنځه ستوریز سیستم لري. که زموږ یو مامور د خپلو مربوطه قرض کوونکو څخه (چې معمولا ٦٠٠ تنه وي)، سل فیصده تادیات تر لاسه کړل، نو هغه ته شین ستوری ورکول کیږي. که هغه د خپل کار په پایله کې گټه ایجاد کړې وي، نو بل ستوری ورکول کیږي - ( آبی ستوری). که هغه نور خلک داسي منسجم کړي وي، چې درآمد یې (بانک ته) د هغه د ټول قرضو په نسبت ډیر وي، نو هغه ته بل ستوری ورکول کیږي (زرغون ستوری). که هغه دا اطمنان تر لاسه کړی وي چې د هغه اړوند د قرضدارانو د ټولو کورنیو ماشومان مکتب ته ځي، نو دی نصواري ستوری تر لاسه کوي. بالاخره که د هغه ټول قرض اخیستونکي له فقر او غربت څخه خلاص شي، نو هغه سور ستوری ترلاسه کوي او طبعي ده چې هغه به د خپلو دغو لاسته راوړنو څخه ویاړ ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برعکس، په نړیوال بانک کې، د دفتر د یوه غړي موفقیت د هغه د هغه قرض په مقدار پوري تړلی وي چې دی له مقروضانو سره په بریالیتوب معامله ورباندي کوي، نه دا چې د قرضې نتایج څه وو. موږ (گرامین بانک) د قرضو کچه په هیڅ شکل د خپل مامور د تحسینولو په سیستم کې په نظر کې نه نیسو.

له یوې مودي راهیسي د نړیوال بانک (WB) او د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د تړلو پر ضد کمپاینونه کیدل خو زه د دغسې کمپاینونو سره موافق نه یم. دغه دواړه ډیر مهم نړیوال نهادونه دي او د ډیرو ښو عواملو لپاره تاسیس شوي وو. د دې پر ځای چې وتړل شي، باید له سره بشپړه بیا کتنه ور باندی وشي.له هغه وخت را وروسته چې دغه نړیوال نهادونه تاسیس شول، نړی ډیر بدلون موندلی ده نو دا وخت رارسیدلی چې دغو نهادونو ته بیا کتنه وشي. واضح ده چې موجود جوړښتونه او د دوی کاری مقررات په موجوده حالاتو کې د دوی د فعالیت لپاره مناسب ندي. که له ما څخه و پوښتل شي، نو زه به ( د دغو نهادونو د ښه والي لپاره) په لاندي نظرونو باندي ټینگار وکړم:

- د دواړو خصوصی او دولتي پانگه اچوونکو لپاره باید یو نوی بانک خلاص شي، چیري چې خصوصي پانگه اچوونکي به د ټولنیز کاروبار له مودل سره سم پانگه اچوونه کوي(چې زه به یې په لاندي پاڼو کې توضیح کړم)؛
- دغه ډول نوی بانک باید له دولتونو، غیر دولتی مؤسساتو او د یو ه نوي ډول مؤسساتو (ټولنیز کاروبار) له لارې کار وکړي، چې په راتلونکو پاڼو کې به در وپیژندل شي؛
- نړیوال بانک باید د نړیوال مالي تصدي (International Finance Cooperation) په ځای بله کړکی ولري – د ټولنیز کاروبار کړکی؛
- د نړیوال بانک عمومي ریس باید د څیړنې د یوې کمیټی له خوا وټاکل شي، کوم چې د نړی له هرې برخې یو مناسب قابل کاندید و گڼل شي؛
- نړیوال بانک باید په محلی کچو د نیمه خودمختاره څانگو له لاری فعالیت ولري، چیري چې هره څانگه یې خپل مشورتي بورډ لري، نه داسي چې د یوه بی صلاحیته هیوادني دفتر په شان وي؛
- د پرسونل ارزیابي باید د دوی د کړنو په کیفیت او د دوی د کارپه ترلاسه شویو اغیزو پورې تړلی وي ، نه د معامله شویو قرضو په حجم پورې[17].که کومه پروژه ناکامه شي، ، او یا ضعیف اجراآت ولري، نو هغه اعضا باید مسؤل وبلل شي چې د هغې پروژي په طرح او حمایه کولو کې یې برخه لرله؛
- نړیوال بانک باید هر کال خپلې ټولي پروژي د فقر او غربت په کمولو کې د هغوی د اغیزمنتوب په اساس درجه بندي کړي او په هر هیواد کې د بانک دفتر هم په عین اساس درجه بندي کړي.

[17]. په اوسنی حالت کې نړیوال بانک څنگه کار کوي؟ البته تر اوسه هم د نړیوال بانک د واشنگتن هیڅ کوارتر ټول تصامیم نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تصدي[18] ټولنيز مسؤليت

په نړۍ کې د ټولنيزو مصايبو او غربت د دوام په ځواب کې د کاروبار په ساحه کې د ټولنيز مسؤليت يو بل ځواب هم را منځ ته شو. غير دولتي مؤسساتو (NGOs). ټولنيزو فعالانو او سياسيونو په تصديو باندی فشار راوړ تر څو دوی د کا ر، چاپيريال، د محصولاتو کيفيت، قيمت (نرخ) او عادلانه تجارت په اړه خپلې پاليسي ګانی تعديل کړي.

بايد و وايو چې د دې درخواست په ځواب کې ډيرو تصديو مثبت عکس العمل ونښود. پدې اخرو کې د کاروبار ډيرو ريسانو خپل کاروبارونه د «عوام فريبي – ولس غلطولو» د ذهنيت پر بنا اداره کول. دوی د خپلې ګټې د اعظمي کيدو لپاره خپل کارګران استثمارول، چاپيريال يې ککړاوه ، په محصولاتو کې يې تقلب کاوه او غلطول يې کول. دوی دا هر څه د ګټې تر نوم لاندي تر سره کول. په اکثرو پرمختلليو هيوادونو کې دغه حالت اوس نشته. د دغه ډول فريب کاريو د مخنيوي يو دليل دولتي مقررات دي، خو بل دليل يې هم د تصديو د ټولنيز مسؤليت تحريک (Corporate Social Responsibility (CSR)) بلل کيږي.

د دغو اتحاديو د فعاليت له برکته اوس ميلونونه خلک پدې ښه پوهيږي او خبرتيا ځينې لري چې تصدی ګانې کوم ښه او کوم بد کارونه کولای شي. اخبارونه، مجلې، تلويزيونونه، راديوګاني او انترنيټ د تصديو د غلطو کړونو په اړه نظارت کوي،اعتراضونه نشروی او ټولنو ته د هغو په اړه معلومات وړاندې کوي. ډير شمير مشتريان له هغه ډول کمپنيو سره، چې ټولنو ته مضرې وي، له همکاريو مخ ګرزوي. د دغو غبرونو يوه نتيجه دا شوه چې اکثره کاروباري تصديګانې دا خوښوي چې په ټولنه کي د ځان يو ښه تصوير ايجاد کړي. پدې توګه دغه کار د د تصديو د ټولنيز مسؤليت تصور نور هم قوي کړ.

د تصديو ټولنيز مسؤليت دوه بڼې لري: يو شکل يې د ټصديو ضعيف مسؤليت بللای شو. د دغه ډول د تصدی ټولنيز مسؤليت طريقه دا وي چې « تر هغو چې ګټې ته مو تاوان نه وي، خلکو او د ځمکې کرې ته ضرر نه رسوو». له دغو کمپنيو څخه چې د ټولنيز ضعيف مسؤليت د تصور پر بنا کار کوي، توقع دا وي چې دوی به مضر محصولات نه پلوري، د فابريکو ککړي اوبه به سندونو ته د تويدلو پر ځای په ځکو کې خښوي، او دولتي مامورينو ته به بډې نه ورکوي.

د شرکتونو د ټولنيز مسؤليت د دوهم ډول، يعنی «قوی ټولنيز مسؤليت» بيا وايي چې « له خلکو او د ځمکي له کري سره ښيګڼه وکړي» (البته تر هغو چې ګټه مو کمه نه شي). دغه ډول کمپنی (شرکتونه يا تصديګاني) بياپه فعال ډول داسی فرصتونه لټوي چې په کاروبار کې يې نورو ته ګټه ورسيږي. د مثال په توګه ممکن دوی د «زرغونو محصولاتو[19]» توليد ته پراختيا ورکړي، خپلو کارکوونکو ته تعليمی او روغتيايي اسانتياوې برابرې کړي، او داسی نور نوښتونه حمايه کړي چې په کاروبارونو کې په دولتي مقرراتو کې شفافيت او عدالت را منځته کوي.

---

[18]. تصدي د انګليسی (Corporate – Corporation) لپاره کارول شوی ده. د نوم په توګه يي معنی کاروبار – تجارت او کمپنی ده ، خو د فعل په حيث يي معنی له لويو کمپنيو يا له يوي خاصې لويي کمپنۍ سره تړاو لرل دي (يعنی د کاروبار برخه يې کيدل).

[19]. زرغون محصولات (Green Products)ه غو محصولاتو ته وايي چې د دوام په ټوله موده کې، يعنی د هغه د توليد له پروسی څخه نيولي بيا د استعمال او استهلاک او له کاره لويدو تر وخته پوری يي چاپيريال ته د ضرر کچه ټيټه وي. مثلا د بانجانو روب چې په لاس کار کرل شويو داسي بانجانو څخه جوړ شوي وی کوم چې په طبعي سرو تقويه شوی او بيا د لمريزی انرژی په وسيله په چليدونکي دستګاوو کې توليد شوي وي. که دغه روب د په تيلو چليدونکي دستګا کې توليد شي، بيا ډير زرغون محصول نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال دا ده چې: ایا د تصدیو ټولنیز مسؤلیت د کاروبار په مشرانو کې د مثبت بدلون راوستلو لپاره یوه رهبری کوونکي قوه ده؟ ایا د تصدیو ټولنیز مسؤلیت به هغه میکانیزم وي چې موږ یې په لټه کې یو، چې لږ تر لږه یو شمیر ټولنیز مشکلات حل کولای شي؟

د دې سوالونو ځواب، متاسفانه، چې «نه» ده. د دې ادعا لپاره څو (لاندي) دلایل موجود دي:

د ټولنیز مسؤلانه کاروبار تصور په یوه ښه نیت بنا وي، لکن یو شمیر متصدیان (د شریکتونو مالکان) له دغه تصور څخه سؤاستفاده کوي او ناوړه ګټه ځیني اخلي او د خپلو کمپنیو د ګټې لپاره مواد ځینی تولیدوي. داسي ښکاري چې د دوی کاروباري فلسفه دا وي چې: تر څو چې ممکنه وي ډیره ګټه تر لاسه کړه، ولو که غریبان استثمار هم کړي. خو بیا لدې ګټې څخه یوه وړه برخه د ټولنیزو مسایلو حل ته وقف کړه او یا داسي یو بنیاد جوړکړه چې داسي کارونه وکړي تر څو مو کمپنۍ نوره هم تقویه شي.بیا نو د خپل سخاوت په اړه ښه تبلیغات کولای شي[20].

دغه شان کمپنیو ته د تصدیو د ټولنیز مسؤلیت تصور د کړکۍ یوه پرده وي. په ځینو مواردو کې عین کمپنۍچې د ټولنیز مسؤلیت په لار کې یې یو سینټ اعانه ورکړي وي، ۹۹ سینټه بیا د ځان د ګټې پداسي پروژو لګوي چې ټولنیز مصایب لا پسي خرابوي. پدې ترتیب سره دغه نو بیا د ټولني د بهبود لپاره یو فارمول نشي کیدای.

یوڅو داسې کمپنۍ هم شته چې مالکان یې د زړه له کومې له ټولنیز بدلون سره علاقه لري. د دغسي کمپنیو شمیر مخ په زیاتیدو ده دا ځکه چې د مدیرانو ځوان نسل د کمپنیو دراس په موقفونو باندي را غلي دي. د پخوانیو په نسبت د دې وخت ځوان ریسان په تلویزیونو او انترنیټ کې د ټولنیزو مسایلو په اړه ښه آګاهي لري او له نړیوالو اندیښنو سره ښه همغږي لري. دوی د چاپیریال د بدلون، د ماشومو کارګرانو، د ایډز د خپریدا، دښځو حقوقو او نړیوال غربت په شان مسایلو ته پاملرنه کوي. کله چې دغه ځوانان د کمپنیو معاونان،ریسان او یا هم د کمپنیو عمومي ریسان وي، نو دوی دغه ډول اندیښنې دکمپنیو د بورد په مجالسو کې مطرح کوي. دغه ډول نوي مشران هڅې کوي چې د تصدیو ټولنیز مسؤلیت د دوی د کاروبار د کاری فلسفی مرکزی هسته وګرزوي.

دغه د ښه نیت یوه هڅه ده . د کمپنیو مدیران هغه چاته مسؤل وي چې د کمپنیو مالکان وي -که هغه یو شخصي یا یو سهامي شرکت وي چې مالکانو یې د مالي ذخایرو له لاري پانګه پکې اچولي وي. په هریوه صورت کې د شرکتونو مالکان یوازي یو هدف لري: *باید د د وی د اچولي پانګې نغدي (پولي) ارزښت زیات شي*.نو هغه مدیران چې دوی استخدام کړي وي باید د کمپنۍ د یوې نتیجې (لاسته راوړنې) د راپور ورکولو کوشش وکړي: *د شرکت د ارزښت زیاتیدل*[21]! د شرکت د ارزښت زیاتیدل بیا یوازي د شرکت د ګټې د زیاتیدو له لاري ممکن وي. په حقیقت کې د شرکتو د ګټې اعظمي کیدل د شرکتونو د مدیرانو قانوني تعهد (مسؤلیت ) وي ، مګر که مالکان کوم بل ډول ماموریت ور وسپاري.

هغه کاروباری شرکتونه چې د شرکتونو د ټولنیز مسؤلیت د ادعا په مطابقت کار کوي، په واقعیت کې په ملفوف یا هم صریح ډول پورته اصل عملي کوي[22]. په واقعیت کې دوی وایي چې: « موږ به د ټولنیز مسؤلیت په محوطه کې کار

---

[20]. زموږ په هیواد کي د دغه ډول په اصطلاح «خیریه نهادونو» په لسګونو مثالونه شته. د ماین پاکي په نوم مؤسسات چي خاوندان یي د «خیرد کار » په نوم میلیونران شول!

[21]. پانګه اچول یې باید ګټه ولري.

[22] یعنی خپلي ګټي مقدمي بولي او ټولنیز مسؤلیتونه بیا د اعظمي ګټي څخه وروسته جانبي مسؤلیت بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوو تر هغو چې دغه مسؤلیتونه زموږ د اعظمي ګټې د ترلاسه کولو خنډ نه وي». د شرکتونو د ټولنیز مسؤلیت یو شمیر هواداران ادعا کوي چې د ګټې ترلاسه کول او ټولنیز مسؤلیت له یو بل سره حتمي متضاد نه وي. دغه ډول ادعا کله کله سمه هم وي. په ځینو خاصو مواردو کې ممکنه ده چې د ټولنو اړتیاوې او د اعظمي ګټې فرصتونه سره متصادف شي.

اما هغه وخت چې د تصدیو ټولنیز مسؤلیت او ګټه سره همغږي ونلري، څه واقع کیږي؟ کله چې د بازار تقاضا او د ټولنو اوږدمهاله منافع له یو بل سره تضاد ولري ، څه واقع کیږي؟ شرکتونه په دغسي صورتونو کې څه کوي؟ تجربو ښودلې ده چې ګټه همیشه ګټونکې (برنده ) وي. دا چې مدیران دشرکتونو مالکانو یا ساهمینو ته مسؤلیت لري، نو دوی *باید* ګټې ته لومړیتوب ورکړي. که دوی کمه ګټه د ټولینزي رفا په ځای ومني، نو مالکان به بیا دوی په غداري متهم کړي او د شرکت ټولنیز مسؤلیت به د شرکت د ګټې لپاره غیر مسؤلانه کړنه و بولي.

پدې ترتیب سره نو که د تصدیو د ټولنیز مسؤلیت مدعیان د ټولنیز، مالي او چاپیریالي «درې خطي قاعدو» په هکله غږیږي، د کومو په اساس چې شرکتونه/ تصدی درجه بندي کیږی، په واقعیت کې یوازي یو معیار مهم وي: مالي ګټه!

په ۱۹۹۰ ومي لسیزی او بیا د نوي پیړۍ په پیل کې د موټر جوړولو امریکایي کمپنیو د SUVs په نوم غټ موټر جوړول چې جوړول یې ډیر زیات منابع ایجابوی او د تیلو مصرف یې هم زیات دی او پدې ترتیب د چاپیریال ککړتیا کې لویه ونډه لري، اما دا چې کمپنۍ د دغو موټرو له کاروبار څخه ډیره ګټه تر لاسه کوي، نو دغه ډول موټرونه لا ډیر مشهور دي او شرکتونه په میلیونونو دغه ډول موټرونه تولید او خرڅوي. SUVs د ټولنې، چاپیریال او نړی لپاره مضر دي، خو د موټر جوړولو د شرکتونو اساسی هدف ګټه ترلاسه کول دي، نو دوی بیا هم هغه څه ته ، چې ډیر غیرمسؤلانه عمل ده، دوام ورکوي.

دغه مثال د تصدیو د ټولنیز مسؤلیت یو ډیر بنیادي مشکل بیانوي.شرکتونه د دوی د ماهیت له مخې داسي دي چې دټولنیزو مسایلو/ستونځو سره د معاملې وس نلري. د دې وجه دا نده چې د دکاروبارونو ریسان ځان پرست، حریص، او یا بد خلک دي، بلکه د مسئلې ریښه د کاروبار په ماهیت کې ده، نه د افرادو په ځانې مشخصاتو کې. په سرمایه داری /پانګه وال نظام کې د کاروبار د تصور په هسته کې هغه څه دي چې له ټولنیزو مسایلو (ستونځو) سره په یوه لار نشي تللای[23].

---

[23]. د هغه متل سره سم چې وايي: د بل غم د ځان ګټه – چې یو مړ نشي ، بل به موړ نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرمایه داري نظام یو نیمګړي ټولنیز ساختار (جوړښت) ده

سرمایه دار*ی* نظام د بشری ماهیت یو تنګ لید لري او داسي فرضوی چې بشر یو بعدي مخلوق ده، چې یوازي اعظمي ګټه پیژني.د آزاد بازار هغه عمومي پیژندل شوی تصور په واقعیت کې د بشر په دغه ډول یو بعدي اصل بنا شوی ده.

د آزاد بازار د تیوري منطق دا دی چې په ټولنه او نړی کې یوازي هغه وخت ښه تره برخه اخیستلای شئ چې د ځان لپاره ډیره برخه تر لاسه کړئ. د دغي نظریي معتقدین چې کله د تلویزیون په پرده غمجن خبرونه ګوري، نو دوی ددې پرځای چې تعجب وکړي چې آیا د اعظمي ګټې هڅي د ټولو علاج کیدای شی، خو دوی خپل دغه شکونه له نظره غورزوي او د دې پرځای په نړۍ کې د ټولو بدو پیښو ملامتیا د آزاد بازار په ناکامي کې بولي (یعنی هغه څوک ملامتوي چې آزاد بازار یې نده عملي/کامیاب کړی). دوی خپل مغز داسي روزلی وي چې په ښه توګه یو عملي کوونکی آزاد بازار هیڅکله غیر مطلوب نتایج نه رامنځته کوي.

زه فکر کوم چې د بشري مسایلو(مصایبو) او ناوړه پیښو، علت به د «آزاد بازار ناکامي» نه وي، بلکې مسئله به تر دې ډیره ژوره وي. د بشر په اړه فرضیه د آزاد بازار نظریه په خپله یو «ناکام تصور» ده.

د کاروبار د سنتي (عرفي) نظریي له مخې انسان یو بعدي فاعل فرض شوی ، چې متشبث ګڼل شوی او توقع ځیني کیږي چې د کاروبار مشری وکړي. پدې ترتیب د دغې نظریې له مخې انسان د ژوند له مذهبي، احساسي، سیاسي او ټولنیزو اړخونو څخه منزوي شوی وي. له دغه ځایه انسان یوازي د یوه ماموریت لپاره ګومارل شوی چې د ګټې اعظمي کول دي. پدې نظریي کې هغه (انسان) د یو بل یو بعدي انسان پوسیله حمایه کیږي ، چې هغه پانګه اچوونکی وي، تر څو هغه خپل ماموریت سرته ورسوي. د اوسکار وایلډ[24] له خبرې سره سم، دوی د هرشي قیمت (نرخ) پیژني (په څو ده)، خو د هیڅ شی په ارزښت نه پوهیږي (څومره اهمیت لري).

زموږ اقتصادي نظریي د یو بعدي انسان نړۍ جوړه کړه چې د آزادبازار لوبې ته یې ژوند وقف شوی وي او هلته موفقیت بیا یوازې د ګټې په مرسته اندازه کیږي. دا چې موږ د هغې نظریي په وسیله ترغیب شوي یو چې هلته ګټه تعقیبوو، او یوازې ګټه د انسان د خوشالي موجب بلل کیږي، نو موږ په ډیر شوق او ذوق سره د هغې نظریي تقلید کوو او هڅه کوو چې ځان په یو بعدي انسان واړوو. د دې پر ځای چې نظریه له واقعیت څخه پیروي وکړي، موږ د فشار له لارې واقعیت له نظریي څخه پیروي کولو ته را بولو. پداسي حال کې چې واقعیت له تیوری سره ډیر فرق لري. خلک یو بعدي موجود نه، بلکې په مهیج او جالب ډول څو بعدي موجودات دي. د دوی احساسات عقاید، لومړیتوبونه، او د سلوک نور علایم (او عروض) په ډیره ښه توګه د هغو میلیونونو رنګونو له ماهیت سره مقایسه کیدای شي ، چې له دریو اولیه رنګونو څخه جوړیدای شي[25]. ځیني ډیر مشهور پانګه وال د علایقو مختلف ابعاد لري، چې دوی رهبري وي. د علایقو دغه مختلف ابعاد بیا دغه توجیه کوي چې ډیر مشهور او بانفوذه پانګه وال، لکه Andrew Carnegie او

[24]. اوسکار وایلډ (Oscar Wilde) د ایرلند یو مشهور شاعر، درامه نویس او ناول لیکونکئ وو چې د ۱۹ پیړی په پای کې یې ژوند کاوو او د خپل وخت د ادب یوه نامتو څیره بلل کیږي.

[25]. اساسي یا اولیه رنګونه د نورو رنګونو له ترکیب څخه نه ترلاسه کیږي او درې دي : سور – ژیړ او آبي. د دغو دریو اولیه رنګونو په خپل منځ کې له جوړه ایز او د درې واړو له ترکیب څخه اوه ثانویه رنګونه جوړیږي ثانویه رنګونه له منشور څخه د نوري طیف د تیریدو او انکسار له لارې لیدل کیدای شي.. د دغو ۷ ثانوی رنګونو له ترکیب څخه بیا نور میلیونونه رنګونه جوړیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Rockefellers ځخه نیولي بیا تر Bill Gates پوري بالاخره د ګټې له لوبې ځخه مخ اړوي او په نورو عالي اهدافو متمرکز کیږي.

زموږ د څو بعدي شخصیت د وجود معنی داده چې هر کاروبار نه یوازي باید د ګټې د اعظمي کیدو د یوازیني هدف لپاره وي.

## ۲. ټولنیز کاروبار : څه ده او څه نه ده؟

د دې لپاره چې سرمایه داری نظام تکمیل شي، مجبور یو چې یو بل ډول کاروبار مروج شي – هغه چې د بشر څو بعدي ماهیت مني او تصدیقوی یې. که موږ موجوده کمپنۍ **د اعظمي ګټې د ترلاسه کولو په تصدیو** کې بیان کړو، نو د کاروبار نوي بڼه به ***ټولنیز کاروبار*** وبولو. متشبثین به ټولنیز کاروبار داسي عیاروي چې نه یوازی به محدوده ځاني ګټه لاسته راوړي، بلکې خاص ټولنیز اهداف باید هم تعقیب کړي.

د آزاد بازار بنیادګرایانو ته به دا لکه یو کفر ښکاره شي. د کاپیتالیزم په موجوده مذهب کې داسي کاروبار چې اهداف یې له ګټې ورها خوا نور څه وي، ځای نلري. له دغه سره سره ،که ټول کاروبارونه د اعظمي ګټې کاروبارونه هم نه وي، نو بیا هم په پوره اطمنان سره ویلای شو چې آزاد بازار به متضرر نشي. واضح خبره ده چې سرمایه داري نظام د اصلاح وړ دی ، او واضح ده چې د موجوده پانګه والي نظام شرایط ډیر لوړ دي (د تحمل وړ ندي)، چې دوام ورکړای شو (نو اصلاح ته یې اړتیا ده). پدې ټنګار کول چې ټول کاروبارونه د هغو د تعریف سره سم (په ذات کې) حتمي باید د ګټې د اعظمي کیدو کاروبار وي، او دغه د یو فی البدیهه حقیقت په توګه منل شوی، دا معنی لري چې موږ داسې یوه نړۍ جوړه کړې چې د بشر څو بعدي ماهیت مو پکې له پامه غورزولی دی. د دې په نتیجه کې کاروبارونه زموږ د ډیرو مبتلابه تهدیدونکو مسایلو له حلولو څخه عاجز دي.

لازمه ده چې موږ انسان په حقیقیي توګه درک کړو او د هغه مختلف الوجهي توقعات (خواهشات) ومنو. د دې کار د ترسره کولو لپاره موږ باید داسي کاروبارونه تشویق او ایجاد کړو چې له شخصي ګټې ور ها خوا نور اهداف هم تعقیب کړي – داسي کاروبارونه چې په بشپړ ډول د چاپیریال او ټولنې مبتلا به مسایلو حل ته متعهد وي.

د اداري جوړښت له مخې دغه نوی ډول کاروبار په اساسي توګه د موجوده اعظمي ګټې د کاروبار په شان ده، خو د اهدافو له اړخه فرق ورسره لري. د نورو کاروبارونو په شان (دغه نوی کاروبار)کارګران استخداموي، محصولات او خدمات تولیدوي، او دغه تولیدات او محصولات مشتریانو ته د هغه له هدف سره په سم قیمت عرضه کوي. خو د هغه بنیادي هدف او د ارزونې معیارونه داسی وي چې ټولنیزي ګټې به (هغو ته چې ورسره تماس لري) ولري.کمپنۍ به ګټه تر لاسه کړي، خو پانګه وال چې دغه کمپنۍ حمایه کوي، بیا هیڅ ګټه نه تر لاسه کوي اما تر یو څه وخت وروسته به بیا خپله پانګه بیرته تر لاسه کړي- یعني پانګه وال د کمپنۍ په ګټه کې برخه نلري، خو خپله سرمایه تر یو څه وخت وروسته بیر ته تر لاسه کوي. نو ټولنیز کاروبار هغه کمپنۍ (شرکت ) ده چې د ګټې د ترلاسه کولو په عوض د علت په وسیله رهنمایي کیږي او پدې وسیله د نړۍ د بدلون لپاره د یو بالقوه اجنټ په توګه عمل کوي.

ټولنیز کاروبار یو رضاکارانه (خیریه) عمل ندی، بلکې په هر مفهوم سره یو کاروبار ده. کله چې یو دغسې کاروبار خپل وضع شوي ټولنیز اهداف تر لاسه کړي، نو خپل ټول مصارف به هم تر لاسه کوي.ځوک چې یو کاروبار په مخ وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د هغه چا په نسبت چې یو خیریه کار کوي،  بل ډول فکر او بل ډول کار کوي  د ټولنیز کاروبار دغه ډول ماهیت د هغه ماهیت او په ټولنه کې د هغه اغیزې تعریفوي.

په نړۍ کې ډیر مؤسسات فعالیت کوي چې د ټولنیزو ګټو په ایجادولو باندي تمرکز لري. اکثرا  له هغو څخه خپل مجموعي مصارف نشي اعاده کولای (تاوان کوي) غیر انتفاعي او غیر دولتي مؤسسات په خیریه اوقافو (صدقو)، د بنسټونو په اعانو یا هم دولتي حمایو باندي تکیه لري. د دوی اکثر قیادتونه متعهد افراد وي او د قدر وړ کارونه ترسره کوي. اما دا چې خپل مخارج د دوی له فعالیتونو څخه نشي پوره کولای، نو دوی مجبور وي چې د خپل وخت او انرژي یوه برخه د مصارفو لپاره د پیسو (مالي منابعو)  په پیداکولو (اعانو جلبولو) تیرکړي.

ټولنیز کاروبار د مروج اعظمي ګټې د کاروبار د اصولو سره سم فعالیت کوي او پدې ترتیب هدف یې د خپلو ټولو مصارفو بشپړ او حتی  تر هغو (مصارفو زیات) پوره کول وي ځکه چې  تمرکز یې د داسې محصولاتو  تولید او خدماتو عرضه کول وي چې ټولنیزي ګټې لري.د دغه هدف د تعقیبولو لپاره  ټولنیز کاروبار  په خپلو تولید شویو محصولاتو او عرضه شویو خدماتو یو فیس یا قیمت هم ږدي.

د ټولنیز کاروبار د تولید شویو محصولاتو یا عرضه شویو خدماتو څخه د ګټې ترلاسه کولو لپاره مختلفې طریقې شته چې لاندي یې یو څو مثالونه وړاندي کیږي:

- یو ټولنیز کاروبار به بازار کې د غریبو او خوارځواکو ماشومانو لپاره مقوي غذا او نور محصولات په ډیره ټیټه بیه تولیدوي. دغه ډول محصولت به ځکه ارزانه وي چې په لوکسو قیمتي مارکیټونو کې د سیالي لپاره قیمت بیه قوطیو او کارتنونو یا هم اعلانونو ته اړتیا نلري. برسیره پردې تولیدونکی شرکت یې هم د اعظمې ګټې په ترلاسه کولو مجبور نه وي.
- یو ټولنیز کاروبار د غریبو لپاره د روغتیایي بیمو پالیسۍ طرح کوي، او بازار ورته پیدا کوي او د غریبانو له وس سره سم روغتیایي خدمات وړاندي کوي (چې ډیر قیمتي نه وي).
- یو ټولنیز کاروبار د کلیوالي سیمو د اوسیدونکو  لپاره د دوباره استعمال ( استعمال مجدد) د انرژۍ سیستمونه په مناسب قیمت تهیه کوي، چې دغه کلیوالي ولسونه شاید په بله لاره (د مارکیت د لوړې بیې د وسایلو له لارې) د برښنا د استفادې څښتنان نشي.
- یو ټولنیز کاروبار په غریبو سیمو یا   کم اغیزه سیاسي سیمو کې  د مستعملو اوبو او یا هم فاضله جاتو د دوباره استعمال په مرسته ګټورړ محصولات تولیدوي ، چې د چاپیریال د ککړتیا مخه هم نیسي.

په دغو او نورو متصوره حالاتو کې د ټولنیز کاروبار شرکتونه یو محصول یا خدمت[26] وړاندې کوي، چې هم ګټه ځیني ترلاسه کیدای شي او هم د ټولنی غریب قشر او په مجموع کې ټولنې ته هم ګټه رسوي.

---

[26]. ډیر غیر ضروري مصارف په اعلانونو او فیشني لوکسو نغښتنو کیږي. د غربي نړي په ملي تلویزیونونو کې د نیم دقیقه ایز تجارتي اعلان اوسط  قیمت ۱۱۵۰۰۰ دالره وي  برسیره پردې د یو تجارتي اعلان د تولید (تیارولو) مصارف هم وي چې ۵۰۰۰ – ۲۰۰۰۰ ډالرو پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ه داسي  پروژه چې یو ټولنیز هدف تعقیبوي، او په خپلو محصولاتو او خدماتو یو قیمت ږدي خو خپل بشپړ مخارج نشي پوره کولای، دغسي یوه پروژه په  ټولنیز کاروبار کې نه حسابیږي.  داسي پروژې چې خپل تاوان په اعانو او یا تخفیفاتو پوره کوي، بیا یو خیریه/رضاکارانه کاروبار بلل کیږي نه یو ټولنیز کاروبار.خو که دغه پروژه بیا خپل ټول مصارف په دوامداره توګه پوره کولای شي، دا نو بیا کاروباري  نړۍ ته داخلیږي چې هغه وخت بیا ټولنیز کاروبار وي.

کله چې د یوه ټولنیز هدف تعقیبوونکي پروژه د مالي اتکا د جاذبې له ساحې څخه راووزي، بیا نو  الوتنې ته تیاره وي. دغسي یوه پروژه بیا په خپلو پښو ولاړه وي او تقریبا د نامحدودې ودې  او توسَعې ظرفیت لري.  او دا چې ټولنیز کاروبار وده کوي، هغه ګټه چې ټولنی ته یې رسوی هم وده  ورسره کوي.

نو یو ټولنیز کاروبارد یوه یو تشبثي  کاروبار (تصدي) په بڼه  طرح  او  عمل کوي چې تولید لري، خدمات وړاندې کوي، مشتریان لري، بازار لري، مخارج او عایدات لري، خو د  «اعظمي ګټې» د اصل په عوض د  «ټولنیزي ګټې» پر اصل بنا شوی وي.  ټولنیز کاروبار د پانګه اچوونکي د ممکنه  لوړې ګټې د ترلاسه کولو په ځاي،   ټولنیز اهداف تر لاسه کول تعقیبوي.

## د ټولنیز کاروبار ګټه  په خپله په کاروبار کې پاته کیږي

ټولنیز کاروبار د خیریه یا غیردولتي مؤسسي او یا هم غیر انتفاعي بنسټونو سره په یوه بل مهم  اړخ کې هم تفاوت لري. د نادولتي مؤسساتو بر عکس او د مروج  اعظمي ګټې کاروبار په شان ټولنیز کاروبار څښتنان لري، چې د خپلې پانګې د دوباره ترلاسه کولو مؤکلین او حقدار  (او واکدار ) بلل کیږي.  ټولنیز کارروبار کیدای شي، یو او یا ډیر مالکان ولري، او هم کیدای شي د یو ه تن  ملکیت وي او یا هم مشارکت[27] وي او یا هم کیدای شي، یو یا څو پانګه اچوونکي یو ټولنیز کاروبار تمویلوي او د کاروبار د پرمخ وړلو لپاره مسلکی مدیران  استخداموي.یو ټولنیز کاروبار کیدای شي د دولت او یا هم  دکومې رضاکاره (خیریه) ټولنې او یا د  دغسې موسساتو د مختلفو ترکیبونو څخه جوړ شوي نهادونه یې مالکان وی.

د بل  هر کاروبار په شان، ټولنیز کاروبار هم نشي کولای چې په لایتناهي توګه تاواونونه و زغمي، خو هغه ګټه چې له ټولنیز کاروبار څخه تر لاسه کیږی، هغه چاته نه ورځی چې پانګونه یې پکی کړې وي،  نو ټولنیز کاروبار د یوه  تاوان نه کوونکي او غیر قابل تقسیم (بې تاوانه او بې ویشه) کاروبار په بڼه تعریفولای شو.  په بله ژبه د یوه ټولنیز کاروبار په نتیجه کې ترلاسه شوې یا تولید شوې ګټه د پانګه اچوونکو په عوض بیرته په کاروبار لګول کیږي. پدی ترتیب سره د ټولنیزکاروبار څخه د ترلاسه شوې ګټې څخه په ټولنه کې مطلوب د ټیټو بیو، ښه خدماتو او زیات لاسرسي په بڼه مستفید کیږي.

په ټولنیزکاروبار کې منفعت (ګټه لرل) مهمه ده. تر څو چې  له ټولنیز هدف سره مغایرت ونلري نو یو ټولنیز کاروبار باید د دوو لاندې دلایلو له مخې ګټه وکړي: یو دا چې باید قرضه بیرته تادیه کړي، او دوهم دا چې د اوږدمهاله ټولنیزو اهدافو تعقیب حمایه کړای شي.

---

[27]. مشارکت (Partnership ) په کاروباري نړۍ کې د دوو یا څو تنو تر منځ په یوه کاروبار یا تجارت کې د رابطې معامله وي، چې په معیینو شرایطو یې توافق سره کړی وي. له شریکانو څخه هر یو پیسې، ملکیت (جایداد) ، خپل کاریا خپل فن پکې اچوي او په ګټه او تاوان کې سره ګډ وي. له مضاربت سره یې فرق دا دی چې  د پیسو څښتن یو چاته پیسې ورکوي او  هغه بل کس بیا خپل کار پکې کوی  او د ګټې سهمونه یې معلوم وي، خو د اسلامې شریعت سره سم، په  مضاربت کې د تاوان برخه د مزدور نه، بلکې د پیسو د څښتن له برخې څخه پوره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اعظمي ګټې کاروبار د مروج شکل په شان، يو ټولنيز کاروبار بايد د اوږدمهاله کار د لارې نقشه ولري. د ګټې ترلاسه کول يو ټولنيز کاروبار پدې قادروي چې په مختلفو ابعادو کې (د خپل فعاليت) افق پراخ کړي ، مثلا خپل فعاليتونه نورو جغرافيوي سيمو ته و غزوي، د خپلو عرضه کوونکو محصولاتو يا خدماتو کيفيت ښه کړي، څيړنيزې او انکشافي هڅې وکړي، د پروسو مؤثريت زيات کړي، نوي تکنالوژۍ وکاروي، او يا هم د ټولنې کم عايده قشر ته د رسيدو لپاره د بازار موندنې په اړه نوښتونه وکاروي.

په هر صورت د ټولنيز کاروبار لپاره بنيادي کرښه دا وي چې د تاوان له تحمل کيدو څخه پرته خلکو او د ځمکې کرې ته خدمت وکړاى شي او په خاصه توګه زموږ د ټولنې لويدلو پرګنو ته په ممکنه ښه طريقه خدمات ورسوي.

دا چې يو ټولنيز کاروبار په څومره وخت کې خپله پانګه بيرته ترلاسه کوي، پخپله په پانګه اچوونکو او د ټولينز کاروبار په مديريت کولو پورې اړه لري. د پانګې د بيرته ترلاسه کولولپاره وړانديز شوې موده د پانګه اچوونې په لاړښود کې تصريح شوي وي: کيداى شي ۵، ۱۰ او يا ۲۰ کاله وي. پانګه اچوونکی ممکن يو مناسب ټولنيز کاروبار انتخاب کړي او د کاروبار پيشبينې شويو اړتياو او د پانګه اچوونکي د خاص ټولنيز هدف ترجيحاتو ته په کتو سره په دغه متوقعه موده کې په وقفه ايز شکل پانګه اچونه وټاکي.

کله چې اچول شوي اوليه پانګه تلافې يعنې بيرته ترلاسه شي، نو بيا پانګه اچوونکي کولاى شي فيصله وکړي چې څه ورباندې وکړي. دوی شايد دغه پيسی دوباره په عين ټولنيز کاروبار کې واچوي، په بل ټولنيز کاروبار کې پانګه اچوونه وکړي، او يا هم د اعظمي ګټې عادي مروج کاروبار ور باندې شروع کړي او يا يې هم د شخصي اهدافو لپاره وکاروي. په هر صورت کې دوی د پخوا په شان د ټولنيز کاروبار مالکان ګڼل کيږي او د پخوا په شان د ټولنيز کاروبار د شرکت د کنترول صلاحيت ور سره پاته وي.

دا سوال پاته کيږي چې پانګه اچوونکي نو ولې په ټولنيز کاروبار کې سرمايه بنده کړي؟ په عمومی توګه ويلاى شو چې د خيريه کارونو په شان د شخصي ارضا او خوښي لپاره به خلک په ټولنيز کاروبار کې پانګه اچوونه وکړي، بلکې د دوی خوښي او رضايت به تر خيريه کارونو حتی لا زيات ځکه وي چې هغه شرکت (کمپنی) چې دوی جوړه کړې ده خلکوته به مطلوبه ټولنيزې ګټې رسول دوام کوي او حتی لا زياتو خلکو ته به يې ورسوي. هغه بيليونونه ډالر چې خلک يې د نړې په مختلفو سيمو کې هر کال د اعانو په شکل خيريه ټولنو ته ورکوِي، د دې يو ثبوت او نښه ده چې خلک د دې تږې دي چې د دوي له پيسو څخه نورو انسانانو ته ګټه ورسيږي. اما ټولنيز کاروبار له خيريه او رضاکارانه ټولنو سره څو مهم تفاوتونه لري:

اول دا چې يو ټولنيز کاروبار چې پيل شي نو په خپلو پښو ولاړ وي او د دې اړتيا نه وی چې د دوام لپاره به يې هرکال نوری پيسې ورکو ل کيږي. ټولنيزکاروبار په خپله پرمخ ځي (روان وي)، په خپله دايمي وي او په خپله توسعه پيداکوي. کله چې بنسټ يې کيښودل شي، بيا نو خپلې ودې ته پخپله دوام ورکوي او تاسي د خپلو پيسو په مقابل کې لا ډيرې ټولنيزې ګټې ترلاسه کوي.

دوهم دا چې په ټولنيز کاروبار کې پانګه اچوونکي خپله سرمايه بيرته تر لاسه کوي. بيا نو د دوی خوښه وی چې په عين کاروبار او يا بل ټولنيز کاروبار کې يې لګوي. پدغه ډول بيا نو له عين پيسو څخه امکان لري ډيره ټولنيزه ګټه ترلاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې دغه يو ډول کاروبار دی نو کاروباري خلک دا يوه زړه راښکونکې موقع ګڼي  او نه يوازې دا چې يوه ټولنيز کاروبار ته پيسې ورکوي، بلکې موقع يې بولي چې خپل کاروباری مهارتونه او نوښتونه هم د ټولنيزو مسايلو د حل لپاره د نفوذ په توګه وکاروي او نه يوائې دا چې پانګه اچوونکی خپلې پيسې بيرته تر لاسه کوي، بلکې  هغه د شرکت د مالک په حيث پاته کيږي او په راتلونکي کې  د هغه شرکت  د عمل د  کړنلاري په اړه هم تصميم نيسي.  دا بيا په خپله يوه ډير زړه راښکونکی هيله ده.

## د ټولنيز کاروبار د ليد پراخول

د تجارت په مارکيټ کې د ټولنيز کاروبار شامليدلو سره بازارونه ناڅاپه  نوي او زړه راښکونکي بديلونه ويني،  او پدې توګه کاروباري مارکيټونه لازيات په زړه پوري، جالب، د مشغولتيا  او  سيالي محلونه ګرزي. ټولنيزې انديښنې (مسايل) د ګټې له هيلو سره د مساويانه اهميت په لرلو سره کاروباري بازار ماحول ته داخليږي، نه دا چې  د عامه اړيکو د کړکۍ له لارې واوريدل شي (يعنی ټولنيز مسايل د کاروبار دګټې په شان د هغه برخه ګرزي).

ټولنيز کاروبار به په کاروباري بازار کې د مروج اعظمي ګټې د کاروبار سره يو ځای فعاليت کوي او د نورو عادي کاروبارونو په شان به له هغو سره رقابت کوي. مشتريان به د اجناسو او خدماتو د قيمتونو، کيفيت، لاسرسي، نوم او نښې او نورو هغو عواملو په اساس، چې په ورځني ژوند کې  په مروج ډول  د دوی په انتخاب اغيزي لري،  تصميم نيسي .

واضح خبره ده چې يو شمير مشتريان به دې ته ترجيح ورکوي چې هغه مال واخلي چې ټولنيزي ګټې لري[28] لدې سره به ټولنيز کاروبار د ګټې د اعظمي کاروبارو سره داسې رقابت کوي لکه چې په معمول  سرمايه داري نظام کې مروج دي او هغه کمپنۍ چې تر نورو ښه وي ، ممکن ګټونکي شي.

ټولنيز کاروبارونه به په خپل منځ کې هم رقابت لري، خو د تولنيزو کاروباري کمپنيو سيالي به د اعظمي ګټې د کاروبارونو تر منځ له سيالۍ سره ډير فرق لري. دغه  سيالي به د ګټې د زياتيدو لپاره نه،  بلکې د ټولنيز ګټو د زياتيدو لپاره وي.پدې توګه به د ټولنيزو کاروبارونو تر منځ رقابت د يو بل د مؤثريت او د خلکو د خدمت د ښه والي لپاره وي.د ټولنيزو کاروبارونو تر منځ سيالي د محصولاتو او خدماتو د ښه او مناسب کيفيت له لارې  د زيات وياړ د ترلاسه کولو په منظور وي، نه دزياتي ګټې د ترلاسه کولو په هيله.

## دوه ډوله ټولنيز کاروبار

په اوسنۍ مرحله کې زه د ټولنيز کاروبار د دوه ډولونو وړانديز کوم:

لومړی ډول هغه شرکتونه دي، چې تمرکز يې د ټولنيزو ګټو وړاندې کول وي ، نه د شرکت د مالک لپاره د ګټې اعظمي کيدل، او مالکان يې داسي افراد وي چې د ټولنيزو ګټو په لټه کې وي؛ لکه د فقر او غربت کموالی،د غريبانو لپاره روغتيايي خدمات، ټولنيزعدالت، نړيوال تداوم، او نور. دغه افراد په ټولنيز کاروبار کې د پانګه اچوونې له لارې رواني، هيجاني، او روحي خوشحالي لټوي، نه د ګټې ترلاسه کول.

---

[28] مثلا دا اوس د نړۍ په  ډيرو برخو کې ډير خلک زرغون محصولات خوښوي (د چاپيريال د ککړتيا د کميدو  په هيله)، يا هغه محصولات نه اخلي چې د ماشومانو د ارزان بيه مزد له لارې توليد شوي وي، يا محلي توليداتو ته ترجيح ورکول تر څو محلي غريب قشر حمايه شي، او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم ډول بیا د اعظمي ګټې د ترلاسه کولو داسی کاروبار وي چې د غریبو یا زیان منونکو ملکیت وي. پدغه صورت کې ټولنیزې ګټې د کمپنیو له اسهامو څخه تر لاسه کیږي- د کمپنۍ د اسهامو ګټه غریبانو ته ورکول کیږي چې پدې ترتیب له دوی سره د فقر په له منځه وړلو او یا کمولو کې مرسته کوي.

لومړی ډول ټولنیزکاروبار ممکن غریبانو ته غذا، کور، روغتیایي خدمات، تعلیمي خدمات ، یا نور لازمي محصولات ورکړي تر څو له غریبو سره مرسته وشي. په دوهم ډول کاروبار کې بیا تولید شوي محصولات یا خدمات شاید ټولنیزې ګټې و نلري، اماد ملکیت له لاري یې ګټه ور ته رسیږي، ځکه د اسهامو مالکین یې غریبان او یا له پامه لویدلي خلک وي او ترلاسه شوې ګټه به له دوی سره مرسته وکړي چې له غربت څه راووزي. دغه ډول شراکت به د خاصو شفافو وضع شویو معیارونو په اساس تنظیم او د کمپنیو د ریسانو لخوا تقویه او عملي کیږي. پدې ترتیب سره هره ګټه چې د کمپنۍ له کاروبار څخه تر لاسه کیږي، هغه چاته ورځي چې اړتیا ورته لري.

فرض کړی چې په هیواد کې یوه غریب میشته کلیوالي سیمه د ورته نژدي سیمې له تجارتي او کارو باری بازار څخه د یوه سیند په وسیله جلا شوي وي. کلیوال نشي کولای چې په عادي او معمولو وسایلو له دغه سیند څخه تیر شي او یوازینۍ لاره به د دغه سیند له پاسه د یوه پل جوړول وي.

پدې ترتیب سره د نوموړې منزوي سیمې د کم عایده او غریبو خلکو محصولات بازار ته نه رسیږي. او دوی له ټولنیزي ناچاري سره مخامخ وي چې د دوی عاید کموي، په بازار کې پیداکیدونکو مناسبو موادو او تعلیمی او روغتیایي او نورو بنیادي خدماتو ته د دوی لاسرسی محدود وي. پدې مثال کې فرض کوو چې ملي او محلي حکومتي اداري دغه مشکل د بودیجې د نشتوالي، سیاسي بی تفاوتي او یا نورو نیمګړتیاو له وجي نشي حلولای. که څه هم دغه یو خیالي مثال دی خو د دریمي نړۍ[29] په ډیرو هیوادونو کې د موجوده وضعیت یوه ښه نمونه ده او موجود وضعیت ښه توضیح کوي.

اوس فرضوو چې یوه شخصي کمپنۍ جوړه شي چې د سیند لپاره یو لوی سرک او یو پل جوړ کړي، تر څو دغه منزوي سیمه د هیواد له بازار سره په مصؤنه توګه و نښلوي. دغه کمپنۍ له دوو اړخونو یو ټولنیز کاروبار بللای شو:

یو دا چې دغه کمپنۍ د غریبو او کم عایده اوسیدونکو لپاره په یوه مالیاتي تخفیف سره لاس رسۍ برابروي. پداسي حال کې چې د سیمې په منځني او مستعد قشر او لویو تجارتی مؤ سساتو به بشپړتجارتي مالیات حواله کوي. واضح ده چې د مستحقو خلکو د تشخیص لپاره به یو طرزالعمل موجود وي او هغوی ته به یو ډول پیژندکارت ورکوي چې د مالیاتي تخفیف مستحق وپیژندل شي.

د مالیاتو ( د سرک او پُل ټیکس) څخه ترلاسه شوی عاید به د پله او سرک جوړولو او ترمیم په مصارفو لګیږي او د وخت په تیریدو سره به له دغي ګټې څخه د پانګه اچوونکي اولیه پانګه هم بیرته ځینې تادیه کړي. خو پانګه اچوونکي به نوره ګټه نه ځینې ترلاسه کوي.که تر دغه وروسته د ټیکس له لارې کومه ګټه تر لاسه کیږي، نو هغه به د نورو تاسیساتو لپاره کارول کیږي تر څو کلیوالي ټولنو ته یې ګټه ورسیږي.- مثلا نور سرکونه، پلونه او یا هم ځینې ټولنیز کاروبارونه چې د محلي اقتصاد ودې او کارموندنو ته ژمن وي.

---

29. د دریمي نړۍ اصطلاح په اصل کې د ساړه جنګ په دوره کې رامنځته شوي وه تر څو هغه ملتونه تفکیک شي چې نه د غربی (ناتو) او نه د شرقی (سوسیالستی) بلاکونو متحدان و. اما په اوسني حال کې دغه اصطلاح معمولا د پرمختللونکو هیوادونو د توضیح لپاره کاریږي، چې د اسیا، افریقا، لاتین امریکا او اوقیانوسیه (استرلیا شاوخوا) اکثر هیوادونه پکې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم شکل به دا وي چې د پله او لوی سرک د شرکت (کمپنۍ) ملکیت د سیمې کم عایده او غریبو اوسیدونکو ته ورکړل شي. کیدای شي چې دا کار په ټیټه بیه د سرک د ونډو (اسهامو) د خرڅولو له لارې تر سره شي. د سیمې غریبو اوکم عایده اوسیدونکو ته د کوچنیو قرض ورکوونکو نهادونو یا داسې قرضو له لارې تر سره شي چې د کمپنۍ له ګټې څخه به بیرته تادیه کیږي. د ټکس څخه نوره ترلاسه شوې ګټه به یا په سیمه کې په نورو نویو زیربنایي پروژو لګول کیږي او یا به د اسهامو د ګټې په بڼه غریبو او کم عایده شریکانو ته ورکول کیږي، کوم چې د کمپنۍ مالکان دي. پدې ترتیب سره به دغه اوسیدونکي مستقیمه مالي ګټه تر لاسه کړي.

ګرامین بانک غریبانو او کم عایده افرادو ته بې له ضمانت څخه او په کم مناسب قیمت کوچنۍ قرضې برابروي او پدې ترتیب سره دوی کولای شي چې خپل واړه کاروبارونه پیل او یا پراخ کړي چې بالاخره دوی له فقر څخه خلاصیږي. ګرامین بانک به د ګټې د اعظمي کیدو یو عادی کاروبار وای که چیري د لوړو پانګه لرونکو مالداره افرادو په لاس کې وای. خو داسې نده؛ د ګرامین بانک مالکان غریبان دي؛ ۹۴ ٪ د اسهامو شریکان یې پخپله قرضه اخیستونکي دي.

پدې لحاظ د مالیکینو د جوړښت او پاکې له مخې نو ګرامین بانک یو ټولنیز کاروبار ده.که د ګرامین بانک په شان یو لوی بانک د بنګله دیش د غریب قشر د ښځو ملکیت کیدای شي، نو همدا شان هر لوی شرکت هم د غریبو خلکو ملیکت کیدای شي (یعنی غریبان هم د هر لوی شرکت مالکان کیدای شي)، خو که موږ په صداقت سره د ملکیت د مدیریت یو عملي موډل په کار واچوو.

همدا راز یو ټولنیز کاروبار د غریبانو د ګټې لپاره دواړه شکلونه په ترکیبي ډول کارولای شي: یو داسې کاروباری پلان تعقیبول چې د تولید شویو محصولاتو او خدماتو او د خرڅلاو د ماهیت له مخې د ټولنیزو ګټو لپاره طرح شوی وي.؛ او همدا راز کیدای شي د غریبو او له پامه لویدلو خلکو ملکیت وي.

## د ټولنیز کاروبار او د ټولنیز تشبث تفاوت

د ټولنیز تشبث مفهوم د هغو خلکو قوت سره یو ځای کوي چې غواړي یو شمیر ټولنیزو مسایلو ته لازمه توجه او پام را واړول شي او د حل په هکله یې یو څه وشي. دغه حرکت په نړۍ کې ډیر داسې خلک را منځ ته کوي چې غواړي له نورو سره د مرستې لپاره په زړه پوري کارونه وکړي. ګرامین بانک او اړوند نهادونه یې هم معمولا د دغسې یوه حرکت د سمبول په بڼه بلل کیږي.

لکن ټولنیز کاروبار او ټولنیز تشبث عین یو شی ندي. ټولنیز تشبث یوه جامع نظریه ده او د هر هغه نوښت او ابتکار په بڼه تعریف کیدای شي ، چې له خلکو سره مرسته کولای شي.

دغه ډول یو نوښت کیدای شي اقتصادي او یا غیر اقتصادي او یا هم د ګټې او بې ګټې په بڼه وي. ناروغانو ته وړیا درمل ویشل د ټولنیز تشبث یو مثال کیدای شي. همداراز په یوه کلي کې چې روغتیایي اسانتیاوې نه وي موجودي، د ګټې لپاره یو روغتیایي کلینیک جوړول هم یو ټولنیز تشبث ګڼل کیدای شي. په همدې ډول یو ټولنیز کاروبار شروع کول هم.

په بل عبارت، ټولنیز کاروبار د ټولنیز تشبث یو فرعي سیټ ده او ټو ل هغه خلک چې ټولنیز کاروبار چلوي، ټولنیز متشبثین هم دي. اما هر ټولنیز تشبث بیا په ټولنیز کاروبار کې نه راځي (مثلا ناروغانو ته وړیا درمل ویشل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د ټولنيز کاروبار تصور نوی ده، نو باور دا ده چې د ټولنيز تشبث نړيوال تحريک به لدې وروسته په ټولنيز کاروبار کې دلچسپي پيداکړي.

د ټولنيز تشبث تحريک ممکن د ټولنيز کاروبار د پيل او ارتقا لپاره زياته توجه وکړي او د هغه لپاره مناسب ابزار او نهادونه ايجاد او ترتيب کړي. يو شمير ټولنيز متشبثين او تشبثات کيدای شي په ټولنيز کاروبار واړول شي، ځکه چې د مروج شکل په نسبت به په نوې بڼه ډيره ټولنيزه ګڼه و لري.

## د مروج کاروبار او ټولنيزو اهدافو د ترکيب مخکينۍ هڅې

"ټولنيز کاروبار" يوه نظريه يا تيورتيک مفهوم نده، بلکه يو شمير ټولنيز کاروبارونه له پخوا څخه په نړۍ کې موجود وو چې ګرامين بانک او د هغه اړوند کمپني ګاني يې نمونې دي. نور ټولنيز کاروبارونه هلته او دلته را څرګنديږي.
ټولنيز کاروبار کيدای شي په ملي او بين المللي اقتصاد کې يو قوي لوبغاړی شي، خو د دغه هدف د ترلاسه کولو لپاره لا اوږده لاره پاته ده. به اوسني وخت کې هيڅا هم کاروبارونه د ټولنيزو اهدافو لپاره په اغيزمن ډول ندي عيارکړي. علت يې دا ده چې د ټولنيز کاروبار هغه اصلي تصور خو عام شوی لا پريږده ، چې موجود هم نده.

يوه هڅه چې منور بشری فکر په کاروباری مؤسساتو کې اچوي، کوپراتيفي تحريک[30] وو چيري چې کارګرو او مستهلکينو لاس سره يو کړی وو چې د کاروبار مالکان شي او هغه کوپراتيفي کاروبار ټولو ته د ګټې رسيدني لپاره مديريت کړي.

رابرت آون (Robert Own 1771 – 1850) چې په انګلستان او سکاتلند کې يې د مالوچو کارخانې لرلې، د کوپراتيفي تحريک مخکښ بلل کيږي. د صنعتي انقلاب په لومړيو لسيزو کې په انګلستان کې داسې عرف وو چې د کارخانو کارګرانو ته به مزدوري په نغدي بڼه نه ورکول کيده، بلکې يو کاغذ ورکول کيده او مزدوران مکلف وو چې چې د کارخانو په مربوطه مغازو کې د هغه کاغذ په عوض کې سودا واخلي، سره لدې چې بيه به يې لوړه او کيفيت به يې هم ټيټ وو. رابرت آون د کارګرانو له دغه ډول استثمار څخه دردیده چې بالاخره يې د کارګرانو د دغه ډول استثمار د مخنيوي لپاره عملي قدم واخيست. هغه په سکاتلند کې په خپله کارخانه کې يوه مغازه خلاصه کړه چې باکيفيته اجناس به په ټيه بيه پکې خرڅيدل او کارګرو به اخيستل ، خو د خرڅلاو څخه تر لاسه شوې ګټه به بيا د ده د کارګرو تر منځ ويشل کيده. دغه حرکت او کار د کوپراتيفي تحريک نطفه بلل کيږي. د کوپراتيفي تحريک اصل دا وي چې کاروبار به د مشتريانو مالکيت وي، او د مشتريانو د ګټې لپاره به فعاليت کوي، نه ددې لپاره چې تجار ته يې ګټه ورسيږي. دغه ډول مغازې چې د رابرت آون د دغه ډول کوپراتيفي تصور په اساس فعاليت لري، په انګلستان او ډيرو اروپايي هيوادونو کې عامې دي.

[30]. تصدي (Enterprise) اصطلاح مختلفې معنی ګاني لري. په قاموسونو کې يې داسې تعريفوي: ۱. يوه پروژه يا عهده چې خاصه، مشکله، بيچلې او له خطرونو سره( پرمخاطره) وي. ۲. د يوې اقتصادي مؤسسې واحد يا فعاليت. هغې کاروباری مؤسسې ته وايي چې معمولا په مختلفو محلونو کې کمپنۍ ګاني لري خو په ګډه کار کوي چې د کمپنۍ اهداف او مرام تر لاسه کړي.
کوپراتيف (Cooperative, Corporation) دافرادو يو مستقل اتحاد وي چې په رضاکارانه توګه د دې لپاره سره يو ځای کيږي چې خپل ګډ انساني، کلتوري او ټولنيز ضرورتونه او ارزوګانې د مشترکو ملکيتي تصدی پوسيله ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوپراتيفي تحريک د کارخانو د بي انصافه مالکانو لخوا د غريبو د استثمار سره د مقابلې لپاره را منځته شوی وو. لدې سره بيا هم د کوپراتيف تصور په ذاتي توګه له غريبو سره د مرستې کولو لپاره نه وو را پيدا شوی. پدې ترتيب سره کوپراتيفي کاروبارونه د مالکينو په اهدافو پورې اړه لري او کيدای شي د اعظمي ګټې د ترلاسه کيدو د کاروبار يو بل شکل هم وګرزي – که اغراض يې د کارګرو حمايه نه وي. که د خپل چارو کسانو په لاس کې ولويږي، نو بيا په محدودو لاسو د اقتصاد د کنترول وسيله ګرځي، نسبت دې ته چې په ټولنه کې له هر يوه سره مرسته وکړي.

يو بل حرکت چې هڅه يې د کاروبارونو اوښو ټولنيزو اهدافو ترکيب وو، د غير انتفاعي مؤسساتو ايجادول وو، کوم چې د ټولنو لپاره مفيد خدمات او محصولات خرڅوي. دغه ډول کمپنۍ هم په ريښتيني توګه ټولنيز کاروبارونه نه وي، ځکه چې دوی يوازې د خپل کاروبار ( دعرضه کوونکو خدماتو او محصولاتو) د مصارفو يوه برخه پوره کوي، خو دوی پدې کاروبار کې ګټه نه کوي. پدې ترتيب سره دوی د خيريه رضاکارانه مرستو له جاذبې څخه د فرار لازم سرعت نشي پيدا کولای (يعنی دا چې دوی خپل مصارف نشي پوره کولای (ځکه له خپل کاروبار څخه ګټه نه لري)، نو دوی په خپلو پښو نشي دريدای او خيريه مرستو ته اړ وي). همدا راز دغه ډول کاروبار پانګه اچوونکي مالکان نلري، کوم چې د ټولنيز کاروبار ځانګړتيا او يوه مهمه مميزه وي- يعنی يو ټولنيز کاروبار د پانګې د منابعو د پيداکولو له لارې چې ګټه هم تر لاسه کوي، او ددغې پانګې څخه د ترلاسه شويې ګټې له لارې د ټولنيزو ګټو مفيديت او مؤثريت يې دواړه تضمين شوی وي.

يو شمير نورې هڅې د مروجو ګټې اخيستنې د کمپنيو د مديرانو له خوا هم تر سره شوي وي، چې کمپنۍ د ټولنې د مسؤليت په رڼا کې وچلوي. مثلا په ځينو مواردو کې کمپنيو د ګټو تر څنګ ټولنيزې ښيګڼې هم وړاندې کړي وي. په ريښتيني توګه د دغو کمپنيو د مالکانو اغراض او محرکات معلوم ندي، نو نشو ويلای چې يو ټولنيز کاروبار به وي او که نه؟ اما د اعظمي ګټې د کاروبار د ماهيت له مخې دغه ډول خدمات او ښيګڼې د پانګې له کموالي سره مخامخ کيدونکي وي.

په پای کې هيڅ يو له پورته توصيف شويو ساختارونو څخه، يعنې کوپراتيف، غير انتفاعي او يا هم د ټولنيز مسؤليت درک کونکی د ګټې کاربارونه د ريښتيني ټولنيزکاروبار قوي ښيګڼې نشي وړاندې کولای. پدې ترتيب سره نړۍ د ټولنيزکاروبار دغسې نوې بڼې ته سترګې په لاره ده.

که د ټولنيزکاروبار تصور په نړۍ کې د آزاد بازار د اقتصاد په ټولو برخو کې ريښې و غزوي، نو بيا نړۍ د بدليدو قابليت پيداکولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټولنيز کاروبار به له کومه راځي؟

دا چې د ټولنيز کاروبار تصور تر اوسه نوی او لا ډير مشهور شوی ندی، نو په سر کې دا ستونځمن ښکاري چې دا تصور کړو چې څوک او ولې به يو څوک داسې کاروبار ايجادوي؟موږ ټول له مروج او عنعنوي شرکتونو سره بلد يو او که مو خوښيږي او يا نه، خو داسې بولو چې موږ د دوی په ارزښتونو او محرکاتو پوهيږو. د ټولنيز کاروبار په اړه بيا داسې نده (موږ نه پوهيږو چې د داسې کاروبار ارزښتونه او محرکات به څه وي؟).

فکر کوم چې که موقع ورته مساعده شي، هر څوک په ټولنيز کاروبار کې د برخې اخيستنې ظرفيت لري. خلک د خپل (کاروباري) ژوند پالنه کوي او د نورو سرپرستي او پالنه هم کوي. بشر د خپل او نورو همنوعو د ژوند د ښه کيدو يو ذاتي او طبعي ميل لري، خو که وکولای شي. که زمينه ورته مساعده شي، نو خلک دا مرجح بولي چې له فقر، ناروغي، ناپوهي او له مصيبتونو څخه په خالي نړۍ کې و اوسيږي. دغه بشري حس د دې سبب کيږي چې خلک خپل بليونونه ډالر رضاراکانه خدماتو ته وقف کړي، د غير انتفاعي موسساتو د ايجاد لپاره بنيادونه (بنسټونه ) جوړوي، د اولسی خدمتونو لپاره د خپل قيمتي وختونو بې شميره ساعتونه رضاکارانه کارونه کوي او (په ځينو حالاتوکې خو لا ) په ټولنيز سکتور کې د کم معاشه وظيفو په خوښولو سره خپل شغلي سرنوشت وقف کوي. دغه ډول محرکات به د ټولنيزو کاروبارونو د ايجاد محرکات هم وي، خو چې يو ځل دغه تصور په عام ډول تفهيم او وپيژندل شي.

په راتلونکي کې د ټولنيز کاروبار د غوړيدو لپاره کيدای شي لاندي يو شمير خاصې منابع د يادولو ړ وي:

- کيدای شي موجوده مختلف الشکله او مختلف الحجمه کمپنيانې به وغواړي چې دوی خپل ټولنيز کاروبارونه پيل کړي.ځينې يې ممکن د دوی د موجوده «ټولنيز مسؤليت» د رسالت د يوې برخې په توگه د خپلې کلنۍ گټې يوه برخه ټولنيز کاروبار ته وقف کړي. نور بيا شايد د نويو بازارونو د لټون او پيداکولو په هيله له غريبو سره د مرستې له لارې يو ټولنيز کاروبار پيل کړي. دغه ډله به يا خپل ځانته ټولنيز کاروبار، يا د نورو کمپنيو په مرسته او يا هم د ټولنيز کاروبار د متخصصو متشبثينو سره په همکارۍ کې کوم ټولنيز کاروبار ايجادوي.
- ټولنيز بنسټونه (خيريه مؤسسات) ممکن د دوی د خيريه کار سره موازي خو په ځانته بڼه[31]، د ټولنيز کاروبار د ايجاد لپاره د پيسو صندقونه ايجاد کړي[32]. د ټولنيز کاروبار گټه دا ده چې که څه هم دغه کاروبار ټولنيزې گټې توليدوي خو پيسې يې نه ضايع کيږی او پدې ترتيب سره د ټولنيزو بنسټونو د ښو کارونو وړتيا تقويه کوي.
- د اعظمي گټې د ترلاسه کولو دمعمولو کاروبارونو په حوزه کې يو شمير مجرب متشبثين (کامياب کاروباريان) شايد دا خوښ کړي چې خپل استعدادونه، نوښتونه او د مديريت مهارت د ټولنيزو کاروبارونو په تاسيسولو او

---

[31]. مثلا د افغانستان لپاره د سويډن کميټه چې د عادي خيريه کارونو تر څنگ يې غريبو متشبثينو ته د کاروبار د ايجاد لپاه وړيا قرضې ورکولی. د قرض کوونکو سره به تعهد کيده چې اصل سرمايه به بيرته په موعده قسطونو بيرته سويډن کميټی ته ورکوي. افغانستان لپاره د سويډن کميټي له دريو ليسزو راهيسي په يو شمير محدودو کليوالي سيمو کې د وړو متشبيثينو سره د وړو قرضو پروژه پيل کړي وه. نتيجه يي يوې څيړنی ته اړتيا لری چې مؤثريت يې معلوم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلولو کې و ازمایی. د دوی مشوقات شاید دا وي چې هغې ټولنې ته بیرته یو څه ورکړي چې دوی پکې آباد شول (پیسې یې پیداکړي)[33] او یا د کوم نوي کاروبار کولو وسوسه ولري .

- نړیوال او بین الدولي انکشافي تمویلونکې منابع له ملي خیریه پروګرامونو څخه نیولې بیا تر نړیوال بانک او ساحوی بانکونو پورې شاید د دوی د مرستو په ترلاسه کوونکو هیوادانو یا سیمه او یا هم ساحوي سطحه باندې د ټولنیزو کاروباري نوښتونو د ایجاد لپاره یوه برخه بودیجه تخصیص کړي. نړیوال بانک او ساحوي بانکونه کولای شي چې د ټولنیزکاروبارونو د ایجادولو لپاره مالي مرستی چمتو کړي.
- دولتونه کولای شي چې د ټولنیزو کاروبارونو د حمایې لپاره انکشافي بودجه تهیه کړي[34].
- دمستعدو او مالداره متقاعدینو لپاره ټولنیز کاروبار شاید د پانګه اچونې یو جذاب فرصت او موقع وي. همدا راز هغو کسانوته چې ډیر مال په میراث ورپاته شوی وي، شاید په ټولنیز کاروبار کې پانګه اچول یا یو ټولنیز کار پیلول یوه ښه مفکوره وبلل شي.
- دلوړو تحصیلاتو یا تجارتی نهادونو ځوان فارغان شاید د ګټې د ترلاسه کیدونکو مروجو کاروبارونو په عوض ټولنیز کاروبار د دې لپاره خوښ کړي چې د نړۍ د بدلیدو خیالونه یې هڅوي او غواړي چې نړۍ بدله کړي.

د ټولنیز کاروبار تصور د ځوان کهول لپاره په ټوله نړۍ کې، او په خاصه په آبادو هیوادونو کې شاید یو په زړه پورې کاروبار وبریښي.ځوان کهول په موجوده سرمایه داري نړۍ کې ناهیلی دی، ځکه چې د دوی د علاقې د جذب لپاره داسې څه پکې نشته. یواځې د مشتریانو د خوښې لپاره محصولات تولیدول او ګټه ترلاسه کول شاید د ځوان کهول لپاره کوم خاص هدف نه وي. دغه خلاوې به د ټولنیز کاروبار په وسیله ډکیدای شي.

د دومره ډیرو منابعو په نظر کې نیولو سره زه وړاندوینه کوم چې ټولنیز کاروبار به په څو راتلونکو کلونو کې د کاروباري نړۍ په صحنه کې یو معمو ل رنګ او ځانګړتیا وګرځي.

---

33. د آغاخان فاونډیشن (بنسټ) شاید د ګټې د یوه کاروبار، چې ټولنیز کاروبارونه هم کوي، یو مثال وي. آغاخان فاونډیشن د لویو قراردادونو او د انکشافي پروژو له لارې ښه مالي امکانات تر لاسه کوي، خو ورسره بیا په هغو غریبو ټولنو کې چې دغه پروژی عملي کوی، خیریه نهادونه هم چلوي چې ځینی یې ټولنیز کاروبارونه هم وي – مثلا غریبو ته د وړو تشبثاتو د ایجاد لپاره بی سوده قرضې ورکول.

34. په افغانستان کې د کلیو د پراختیا بانک او زراعتي بانک یې کیدای شي مثالونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بشر څو وجهي مخلوق ده

کيدای شی مو ږ د ټولنې په اړه د اقتصاد پوهانو هغه تنگ ليد پدې فرضيې سره غني کړای شو چې خلک دوه ډوله و بولو: يو هغه خلک چې غواړي اعظمي گټه ترلاسه کړي، او بل هغه خلک چې غواړي ټولنيزې گټې ايجاد کړي او خلکو او د مځکې سيارې ته ښه کارونه وکړي. خو د دغه نوې فرضيې سره بيا هم موږ د يو بعدي خلکو په نړۍ کې پاته کيږو – يواځې د يو بعدي خلکو دوه ډوله دکلاسيک اقتصادی ليد بر عکس چې يواځې بشر يو ډول مخلوق بولي ( هر څوک يواځې د گټې او هغه هم د اعظمي گټې په لټه کې وي).

په حقيقی په دنيا کې يواځې د يو بعدي انسان دوه ډولونه نه دي، بلکې انسان يواځې يو ډول شخصيت ده چې خلک يو، دوه، درې او يا زيات ډولونه علايق او اهداف لري او دی يې په بدليدونکې ډول په مختلفو درجو سره مخکې بيايې. د اسانتيا لپاره کولای شو چې دغه علايق په دوو لويو کتيگوريو وويشو – خپله گټه او ټولنيزه گټه، کوم چې له هغه دوه ډوله کاروبار سره مطابقت کوي چې موږ د کتاب پدې فصل کې توضيح کړل: د اعظمي گټې د ترلاسه کولو کاروبار او ټولنيز کاروبار.

افراد، کمپنيانې او يا هم پانگه اچوونکي به څه ډول له دغو دوو کاروباري بهيرونو څخه يو انتخاب کړي؟ له ښه مرغه چې خلک يواځې يو له دغو دوو بديلونه څخه د حتمي انتخاب په حالت کې نه دي- يعنی يا دغه يا هغه - په اکثرو حالاتو کې خلکو ته دا موقع مساعده وي چې په عين حال کې په دواړو دغو بهيرونو کې برخه ولري- البته دا چې افراد په يوه زماني وقفه کې کوم ډول اهدافو ته ډير ارزښت ورکوي او مرجح يې بولي، افراد به په مختلف تناسب سره په هريوه له دغو بهيرونو کې برخه ولري. مثلا:

- يو پانگه اچونکۍ شايد يوه برخه خپله پانگه د اعظمي گټې په کاروبار کې ولگوي، او د خپلې پانگې بله برخه بيا په کوم ټولنيز کاروبار کې په کار واچوي.
- د يوې کمپنۍ د ريسانو بورډ شايد تصميم ونيسي چې د کمپنۍ د کال د گټې يوه برخه د خپل کاروبار د پراخولو لپاره په مارکيټ کې ولگوي، (مثلا بله کمپنۍ واخلي او يا موجوده کمپنۍ پراخه کړي) او د گټې پاته برخه په کوم ټولنيز کاروبار کې په کار واچوي.
- د کوم خيريه نهاد د محسنينو د بورد غړي ممکن د ترلاسه شويو هداياوو يوه برخه پداسي ټولنيز کاروبار کې ولگوي چې د دوی د نهاد له اهدافو سره مغايرت نلري.
- حتی د کاري ژوند په مورد کې هم يو څوک ممکن د يو څه وخت لپاره د اعظمي گټې په کاروباري ساحه کې کار وکړي، بل وخت بيا د غير دولتي مؤسساتو په ساحه او بل وخت بيا د ټولنيز کاروبار په ساحو کې مصروفيت ولري.

دا ويره نشته چې يو څوک د پانگه اچوونې او يا کاري ژوند په مورد کې حتمي بايد د دغو دوو يو بعدي بشري سلوک له موډلونو څخه يو انتخاب کړي. بشر يو څو بعدي مخلوق ده او هغه کاروباري موډلونه چې موږ يې پيژنو هم بايد په معادله توگه متنوع وي. ټولنيز کاروبار د يوه بديل په توگه درک کول او تشويقول به له هغه سره مرسته وکړي.(د بشر له څوبعدی ماهيت سره).

**پـــــــــــــــــای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لیکنې پایلې او نتایج د افغانستان په شان د هیواد لپاره**

د ټولنیز کاروبار مفهوم د غریب قشر له کاروباری استعدادونو څخه د کا راخیستلو لپاره زمینه برابرول دي. دا چې غریب قشر سرمایه نلري، نو د سرمایه داری نظام د تصور له مخې دغه قشر یوازی استخدام کیدای شی ( یوازی مزدوري کولای شي)، پداسې حال کې چې هر څوک د کاروبار استعداد لري، خو وسایل (پانګه) نلري. د دې لپاره چې د ټولنې غریب قشر کاروبار وکړای شي او هم نورو ته کارونه ایجاد کړای شي، دوی ته باید مالي مرسته مهیا شي. د نړۍ په بانکي نظامونو کې معمولا بانکې قرضه ترلاسه کول له یوې خوا ضمانت غواړي او له بلې خوا معیینه فیصدي سود ورکول ایجابوي، چې پدې ترتیب سره د ټولنې غریب قشر د کاروبار لپاره پانګه نه شي ترلاسه کولای.

د ټولنیز کاروبار له تصور سره سم، د ټولنې غریب قشر ته باید د بانکدارانو، بانکونو یا د ټولنې د متمویلو او مستعدو افرادو لخوا د «قرض حسنه» په شرایطو آسانه مالي امکانات ورکړل شي، تر څو دوی په انفرداي او یا په ګډه سره یو کاروبار وربانديې شروع کړي. په قرض ورکولو برسیره دغه ډول افراد باید کاروبار کولو ته هم تشویق شي، یعنی د قرض اخیستلو لپاره قرضه اخیستونکي باید د یو ډول کاروبار تر سره کولو پلان ولري تر څو قرضه ترلاسه کړای شي.

زموږ هیوادوال له یوې خوا په طبعی توګه متشبث او زیارکښ وګړي دي او له بلې خوا د آزاد کاروبار کولو جرآت هم لري. زموږ د هیوادوالو آزاد طبعیت ( د هیواد په تیر تاریخ کې په ریښتینی معنی د پیوډالي او سرمایه درای نظام نه موجودیت) او هم د اسلامې ارزښتونو څخه د الهام له برکته د ټولنیز کاروبار لپاره ښه آماده ښکاري، خو حمایي، تشویق او بازار موندنې ته لویه اړتیا لیدل کیږي. د لازمې سرمایې آسانتیاوي به له دوی سره ډیره مرسته وکړي چې د وړو کاربارونو ګټه ولري.

د قرضي د تهیه کولو لپاره د ګرامین بانک د تجربو په شان په هیواد کې کیدای شی چې مختلف جوړښتونه وکارول شي، چې لاندې یې څو مثالونه دي:

- د هیواد متمول او شتمن متقی اشخاص تشویق شي چې د خپلو سرمایو یوه برخه د هیواد په یوه بانک کی واچوي تر څو غریب وګړي د کاروبار د ترسره کولو لپاره قرضه ځینی واخلي؛
- په هیواد کې د کلیو د پرا ختیا بانک کیدای شي د غریبو د کاروبار لپاه قرضه ورکول رایج کړي؛
- د نړۍ شتمن وګړي د بشری او یا اسلامی احساس له مخې تشویق او جلب شي تر څو په دغه ډول بانکونو کې یوه څه سرمایې واچوي؛
- کیدای شي سرمایه اچوونکې له غریبو سره په ګډه ټولنیز کاروبار ونه شرع کړي.

یو شمیر واړه کاروبارونه او تشبثات چې د سرمایي د تهیه کولو په صورت کې په ټول هیواد، او په خاصه کلیوالي سیمو کې، مناسب لیدل کیږي، کیدای شي په لاندی برخو کې وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**1. د کرنې او مالداري په برخه کې:**

- له غریبو کم زمینه  او بی کسه کلیوالی کورنیو سره مرسته کول چې په خپلو کمو مځکو (یا دولتی غیر زراعتي ملکی مځکو )کې کورنۍ باغچې، قیمت بیه طبې بوټي (زعفران، انجه، ادرک (زنجبیل)، الوویرا، او نور وکرلای شی؛
- په کورونو کې د چرګو او هګیو کوچني فارمونه جوړول؛
- په یو شمیر سیمو کې د طبعي ځنګلونو او بوټو پالنه او ساتنه (کیدای شي محلی حاکمان او د زراعت وزرات یي یو لوی پیمانه پلان جوړ کړي او له اوسیدونکو سره مالي مرسته وکړي چې هغه طبعي نایاب ځنګونه او بوټي  وساتی او توسعه ورکړي)؛
- د شمسي انرژی کوچني پلانتونه جوړول او په محلي سطحه په کورونو یا وړو صنعتي کارځایونو خرڅول؛
- په محلي سطحه د طبعي میوو پروسیس کول (مثلا د زنغوزیو، پستې، بادامو یا چارمغزو پخول، سپینول، پاکت بندي کول، کارتن کول او صدور ته تیارول)؛
- د میو مربع، جوس یا هم کانسرو جوړولو کاروبار تمویل او تشویقول.
- د حیواني پوستکو پخول او پروسیس کول؛
- د شاتو مچیو، وریښمو چنجیو یا هم ماهې پالني فارمونو په شان واړه کاروبارونه تشویقول او تمویلول؛
- او نور.

**۲. د صنعت او تولیداتو په برخه کې**:

ټول هغه واړه صنعتي محصولات چې اومه مواد یې په هیواد کې پیداکیږي او تولید یې لوړپیمانه تخنیکیې  پوهه او پیچلتیا نه ایجابوی او په هیواد کې کافي مصرف لري، د ټولنیز کاروبار له لاري په اسانۍ تمویل، تشویق او ایجادیدلای شي. مثلا: برقي سایکټونه، سویچونه، برقی اوتو، منقلونه، حتی شمسي پلاټونه او نور.

د  صنعتي او زراعتي هر ډول ټولنیز کاروبار لپاره لازمې برښنا د شمسي پلاټونو له لاري په هره سیمه کې په محلي توګه ترلاسه کیدای شي . برسیره پر دې په کلیوالي سیمو کې د محلونو کرایه هم هیڅ او یا کمه وي، نو باور داده چې د ښه کیفیت د تولیداتو قیمت به هم د وارد شویو موادو په نسبت ټیټ وي. له دغه ځایه څخه د ښه رقابت لپاره به یوازي د محصولاتو ښه کیفیت لازم او کافي وي.

**و من الله تفیق**

**منصوری**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**